
# تحفة المدنی

# في

# علم الوقف والرسم

# خط عثماني



مصنف

شیخ القرآء حضرت مولنا

قاری عبدالرحمن مدنی صاحب



مدرس تجوید و قرأت فی بلوچستان

مکتبہ رشیدیہ

کچلاک

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat .com

تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

| | | |
|---|---|---|
| تفاسیر | خطبات | منطق |
| احادیث | سیرت | معانی |
| فقہ | تاریخ | تصوف |
| سوانح حیات | صرف | تقابل ادیان |
| درس نظامی | نحو | تجوید |
| لغت | فلسفہ | نعت |
| فتاوی | حکمت | تراجم |
| اصلاحی | بلاغت | تبلیغ ودعوت |
| تمام فنون | | |

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# تحفة المدنى

## في

# علم الوقف والرسم خط عثماني


مصنف

شيخ القرآء حضرت مولنا قاري عبدالرحمن مدني صاحب
مدرس تجويد وقرأت في بلوچستان



ناشر:

مكتبة رشيدية

كچلاک



Maktaba Tul Ishaat.com

د کتاب نوم : تحفة المدنی في علم الوقف والرسم خط عثماني

مصنف : شيخ القرآء حضرت مولنا قاري عبدالرحمن مدني صاحب

کمپوز : جامع الوقوف ابو احمد سعادت کمپوز جامع

الرسم : طالب العلم محمد حنيف صاحب

ناشر : مکتبه رشيديه، کچلاک

بسم الله الرحمن الرحيم

نحمده ونصلي على رسوله الكريم:

زما عزت مندوورونو په روایت د حفص په نصاب کښې داخل څلور علوم دي اول علم تجوید، دویم علم اوقاف، دریم علم رسم خط عثماني، څلورم علم قرأت، او ددې څلورو علومو پیژندل د هر قاري او مقري لپاره ضروري دي ما احقر مدني د نن زمانې معلمین او متعلمینو لپاره دوې رسالې ولیکلې: یو جامع الوقف، دویم جامع الرسم چې دا دواړه رسالې په نصاب کښې داخل دي ددې لپاره چې د دوري حاضره معلمین او متعلمین حضرات ددې څخه پوره استفاده وکړي د الله پاک څخه عاجزانه تمناء او ارزو کوم چې زما دا دوې رسالې د خپلې رضا موجب وګرزوي آمین زمونږ سره ددې څلورو علومو کتابونه په پښتو ژباړه کښې موجود دي هر طالب العلم کولای سي چې زمونږ څخه په دې څلورو علومو کې پوره استفاده واخلي

احقر مدني غفر له

Maktaba Tul Ishaat.com

بسم الله الرحمن الرحيم

**نحمده ونصلي على رسوله الكريم :امابعد:**

ره احقر مدني د الله تعالى دا ارشاد بيانوم:ورتل القرأن ترتيلا :يعني د قرأن كريم ويل په ترتيل سره ويل پكار دي، د دې خلاف ويل عقاب او ترټنه بيره ده

حروف او دهغه مخارج او صفاتو سره اداكول او دوقف د قواعد وځايونه پيژندل دې ته ترتيل وايي:ترتيل هغه وخت مكمل وي چي كله قاري حروفو لره صحيح مخارج اوصفاتو اداكولو سره په وقف كولو كي قواعد دوقف په ځايونو كي خيال وساتي.

د ترتيل دويم جز علم وقف دى، د اهميت په لحاظ سره علم وقف د علم تجويد څخه كم نه دى، دكوم أيات څخه چي د تجويد وجوب ثابت دى د دغه أيات څخه د علم وقف وجوب هم ثابت دى، لويه خوبي يې داده چي په علم تجويد سره د قرأن كريم صحت وي نو په علم وقف سره د قران كريم معرفت حاصليږي.

هرقاري لره علم تجويد ،علم قرأت، علم رسم سره د علم وقف پيژندل هم ضروري دي، په دې باندي د قاري مكمل كيدل موقوف دي، په دې وجه د علم وقف اهميت ښكاره دى، د دې وجي نه په علم وقف كي ديو داسي كتاب دليكلو ضرورت معلوم وي، چي په هغه كي دوقف احكام سره سكته، سكوت او د قطع احكام هم معلوم سي، دا كتاب په سكته سكوت او قطع سره كامل دى نو د دې وجي څخه د دې كتاب نوم (جامع الوقوف) دى الله تعالى دي د علم تجويد سره د طالبانو د فن لره د علم وقف حاصلولو توفيق وركړي

اوداکتاب دي الله تعالی په خپل دربارکي قبول کړي،أمین ثم امین،خادم القران فخرالقرأن احقر مدني صاحب غفرله

په علم وقف کي ددوو خبرو پيژندل ضروري دي(۱)کيفيت وقف(۲)محل وقف

(۱)کيفيت وقف يعني څرنګه وقف کيږي هغه ته کيفيت وقف وايي:

دکيفيت وقف څلور صورتونه دي(۱)کيفيت وقف په اعتبار داداءسره،(۲)کيفيت وقف په اعتبار داصل سره،(۳) کيفيت وقف په اعتبار درسم سره(۴)کيفيت وقف په اعتبار دوصل سره:

کيفيت وقف په اعتبار داداء څلور صورتونه دي(۱)وقف بالاسکان(۲) وقف بالاشمام(۳)وقف بالروم(۴)وقف بالابدال:کيفيت وقف په اعتبار داصل شپږصورتونه دي(۱)وقف بالسکون(۲)وقف بالتشديد(۳)وقف بالاظهار(۴)وقف بالاثبات(۵)وقف بالحذف(۶)وقف بالالحاق.

وقف په اعتبار دمحل پنځه صورتونه لري:(۱)وقف تام(۲)وقف کافي(۳)وقف حسن(۴)وقف قبيح(۵)وقف اقبح.

وقف په اعتبار دوقوع څلورصورتونه لري:(۱)وقف اختياري(۲)وقف اضطراري(۳)وقف اختباري(۴)وقف انتظاري.

Maktaba Tul Ishaat.com

## (اول سبق)

### (وقف)

وقف په لغت کي مطلقا بندولو ته وايي:او په اصطلاح کي دقراء په اعتبار سره دقران شريف ځلوروطريقوباندي واقع کيږي،بيا که چيري وايي په اخر دکلمې باندي صرف اواز بند وي اوساه جاري وي،نوداسکته وي،اوکه چيري داواز سره ساه بنده سي نوداوقف دی،اودقران کريم متعلق دځه ضرورت په وجه په وقف کي ځنډ وي نوداسکوت دی،اوکه چيري دوقف نه وروسته يې ونه وايي نوداقطع دی،

اوپه اصطلاح کي وقف عبارت دی دقطع کولو څخه داواز په يوه کلمه دومره زمانه چي عادتا په هغه کي ساه اخستلای شي په دې نيت بيرته قران کريم شروع کوي نه په نيت داعراض دقرأت څخه

دعلم وقف موضوع کلمه اوکلام دي په دې وجه په وقف کي دوه شيان وي:يو کيفيت وقف يعني داپيژندل چي وقف څنګه کيږي نووقف په اعتبار دکيفيت وقف کي اخر دکلمې سره تعلق لري،دويم محل وقف يعني داپيژندل چي وقف په کوم ځای کيږي ،نووقف په اعتبار دمحل وقف کي دکلام سره تعلق لري،دعلم وقف غايه صحيح والی دوقف اووضاحت دمعنی.

## (دويم سبق)

### وقف په اغتبار داداء او دهغه تعريفونه:

(١) وقف بالاسکان تعريف دادی:صرف موقوف عليه متحرک لره ساکن کړي ساه او از ختمول لکه رب العلمين وغيره...

(٢) وقف بالروم تعريف عبارت دی له صرف موقوف عليه مکسوريا مضموم باندي اواز نرم اوحرکت أخري حصه باندي اداکول لکه يوم الدين يانستعين وغيره ...(٣) وقف بالاشمام تعريف عبارت دی له موقوف عليه لره ساکن فورادشنډوخخه ضمي طرف ته اشاره کول لکه نستعين وغيره ...

(۴) وقف بالابدال تعريف عبارت دی ددوو زورو تنوين په الف سره بدلول اويا تايي مدوره په هايي ساکن سره بدلول لکه توابايا البينة،اوس عمل دخلورو وقفو بيانيږي:وقف بالاسکان په زور زير پيش په دروسره حرکتوکي اداء کيږي هغه که حرکت اصلي وي يا عرضي وي،وقف بالروم صرف په موقوف عليه مضوم کي کيږي،وقف بالابدال په زور والا تنوين اوتايي مدوره کي کيږي

## (دريم سبق)

### (وقف په اعتبارداصل اودهغه تعريفونه)

(١) وقف بالسکون تعريف عبارت دی له صرف موقوف عليه ساکن باندي ساه اواز ختمول لکه فانصب وغيره...(٢) وقف بالتشديد تعريف عبارت دی له صرف موقوف

Maktaba Tul Ishaat.com

علیه مشدد لره ساکن کړي لکه مستمیر وغیره...(۳) وقف بالاثبات تعریف عبارت دی له دې چي صرف مده وصلاً حذف کیږي او حرف مده په اصل کي ثابت وي لکه وَادۡخُلو البَاب وغیره...(۴) وقف بالاظهار تعریف عبارت دی له صرف موقوف علیه مدغم باندي ساه اوازختمول لکه یلهث ذلک وغیره...(۵) وقف بالحذف تعریف عبارت دی چي صرف وصلا ویل کیږي وقفا نه ویل کیږي لکه به له سلسل یعني سلسلا وو(۶) وقف بالالحاق تعریف عبارت دی له هایي سکته باندي وقف کول لکه ماهیة.

(څلورم سبق)

وقف په اعتبار درسم او په اعتبار دوصل او دهغه صورتونه:

کیفیت وقف په اعتبار درسم دوه صورته دي: (۱) په کومه کلمه چي وقف وشي هغه رسما او وصلا یو وي لکه کتابیه دې وقف ته موافق درسم وایي (۲)

په کومه کلمه چي وقف وشي هغه صرف رسما موافق وي لکه الظنونا وغیره...دې وقف ته موافق درسم وایي: کیفیت په اعتبار دوصل دوه صورته دي: (۱) چي الف خلاف قرأة لیکلی وي لکه ثمودا وغیره...هغه دوصل په شان په وقف کي هم محذوف وي او أخري حرف ساکن ویل کیږي دې ته وقف موافق وصل ویل کیږي.

(دویم) چي حرف مد مقروء رسما محذوف وي لکه لتستئوغیره...په وقف کي هم ویل کیږي دې ته هم وقف موافق وصل ویل کیږي، په دې دوو صورتو کي وقف موافق درسم جائز نه دی، (**فائده**) لفظ سَلاسِلاَ په حذف دالف سره د سکون دلام سلاسلۡ او فما أتان باندي یا ساکني سره فما اتاني وقف موافق دوصل هم جائز دی.

## (پنځم سبق)

### د وقف تعريفونه او د هغه حکمونه (۳۵) دي:

(۱) حرف موقوف عليه متحرک ساکن کول ساه کښل ضروري دي، (۲) د وقف کولو ورسته د دويمي ساه څخه شروع کول ضروري دي کنه نو دا وقف نه کيږي، (۳) وقف هميشه د کلمې په أخر کي کول پکار دي، په مينځ د کلمې کي وقف کول نه دي پکار (۴) دوې کلمې يو ځاى ليکلي وي لکه بِئْسَمَا وغيره...

نو هميشه د دويمي کلمې په أخر باندي دريدل پکار دي (۵) په حرف موقوف عليه متحرک باندي وقف کول دا ساکن کول ضروري دي په حرکت او تنوين باندي دريدل جائزنه دي (۶) حرف موقوف عليه متحرک کي روم اشمام هم جائزدى په شرط د دې چي حرکت اصلي وي (**خبرتيا**) د روم په حالاتو کي تنوين نه ويل کيږي بلکې د هغه په حرکت کي روم کيږي (۷) هايي ضمير کي روم او اشمام هم جائز دي مګر په حالات د روم کي صيله نه کيږي لکه رَسُولُهٗ وغيره... (۸) تايي مطوله کي هم روم اشمام جائزدي لکه اَلْمُؤْمِنَاتُ وغيره...

(۹) حرف موقوف عليه تايي تانيث مدوره واقع وي، لکه نِعْمَةٌ وغيره...

نو په دې صورت کي صرف وقف بالابدال کيږي (۱۰) حرف موقوف عليه د زورتنوين واقع وي لکه جفاءً وغيره... نو په دې صورت کي هم وقف بالابدال کيږي، (۱۱) حرف موقوف عليه نون يا ميم واقع وي لکه مِن رَبِّكُم وغيره... نو په دې کي وقف بالاظهار وي دا رنګه په حرف مدغم يا حرف مخفى باندي وقف وشي نو وقف بالاظهار وي (۱۲) چي حرف مد مرسوم په وجه د اجتماع د ساکنينو وصلا محذوف وي لکه قُلْنَا اهْبِطُوا يَرْجُوا اللّٰهَ يُؤْتِي

Maktaba Tul Ishaat.com

الحِكۡمَةَ وغیره...په دې باندې وقف بالاثبات کیږي(۱۳)چې حرف مد په وجه د تماثل مرسوم نه وي په دې باندې وقف بالاثبات وي لکه تَرَآءَ الۡجَمۡعَانِ په اوله کلمه باندې وقف وکړي نو په اثبات د الف سره تراۤء اوي(۱۴)چې الف مرسوم وصلا محذوف وي لکه وَاَنَا اَوَّلُ اوِالسَّبِيلَا وغیره...په دې باندې وقف بالاثبات دی.(۱۵)وقف د رسم قرآني موافق کول لکه أٰتٰنِيَ الۡكِتٰبَ کې اٰتاني باندې او اٰتان ې الله کې لفظ اتان باندې وقف موافق د رسم وی مګر وليّ الله د یاد ویم باندې سکون دیا سره وقف موافق وصل دی.(۱۶)وقف بالتشدید کې ځنډ د دوو حروفو وي لکه عَدُوًّا وسَوِيٌّ وغیره...(۱۷)وقف بالتشدید کې روم او اشمام هم جائز دي که څه هم تنوین وي لکه دريٌ وغیره...(۱۸)حرف موقوف علیه که نون یا میم مشدد وي دیوه الف قدر غنه وي که څه هم روم یا اشمام وي لکه جَآنٌ وغیره...(۱۹)که د حرف موقوف علیه ماقبل سکون اصلي وي په ځای د وقف بالاسکان کولو خو په وقف بالروم کې یې کول بهتر دي لپاره د دې چې سکون اصلي یې پوره أدا شي سَبِّحۡهُ وغیره...(۲۰)قطب جد په حرف باندې وقف وشي نو سکون وقف کې د قلقلې په ویلو کې اواز ښه ښکاره کول پکار دي لکه فَلَقۡ وغیره...(۲۱)په حالت د وقف حروف قلقله مشدد په ځنډ کولو کې ښه ښکاره کول پکار دي لکه وَرَسُوله اَحَقُّ وغیره...(۲۲)لکه چې دا د وقف په وجه ساکنه وي او یا یې ماقبل ساکن وي نو د وقف په حالت کې ډک ویل کیږي په دې شرط چې مخکې توري یې زیر یا یې ساکنه نه وي لکه لَيۡلَةُ الۡقَدۡرِ وغیره...(۲۳)را مشدده موقوفه ډکه وي په دې شرط چې ماقبل یې زیر نه وي لکه مُّسۡتَقِرٌّ وغیره...(۲۴)را موقوفه بالروم ډکه ویل کیږي په دې شرط چې را پخپله زیر مکسوره ونه لري لکه قَدِيرٌ وغیره...(۲۵)را موقوفه بالاشمام په ډکوالي او باریکوالي کې د وقف بالاسکان کې دي (**فائده**)فرق په لفظ کې اختلاف ده که ډکه وي او که باریکه وي خو ډکوالی یې بهتر ده (۲۶)هغه حروف چې همیشه ډک ویل کیږي نو هغه په وقف کولو کې ډک ویل پکار دي لکه عَلَيۡهَا حَافِظٌ وغیره...(۲۷)چې صفات

عارضه موقوف علی الوصل وي نو دغه اداکول په وقف کي پکار نه دي مثلا: مد منفصل کي ولي چي په دې حرف باندي وقف وشي نو مد نه اداکیږي لکه سَمَّيْتُمُوهَا آنْتُمْ کي پر ها باندي (۲۸) حرف موقوف علیه مفتوح ځخه مخکي حرف مد واقع وي لکه العلمین وغیره... په دې کي طول، توسط، قصر درې سره وجي جائز دي، (**فائده**) که تر حرف مد ورسته سکون واقع وي دې ته مد عارض وايي: (۲۹) که چیري تر حرف مد ورسته او ترسکون وقفي مخکي حرف مد واقع وي لکه الرحیم وغیره... په دې کي طول، توسط، قصر مع الاسکان او قصر مع الروم ځلور وجي جائز دي (۳۰) حرف موقوف علیه مضموم ځخه مخکي حرف مد واقع شوی وي لکه نَسْتَعِينُ وغیره... په دې کي طول، توسط، قصر مع الاسکان او طول توسط قصر مع الاشمام او قصر مع الروم په دې کي اوه (۷) وجي جائز دي (۳۱) په مد متصل وقفي کي د توسط ځخه علاوه په وجه د سکون عارض طول جائز نه دی او په مد عارض کي توسط بهتر نه دی لکه يَشَآءُ وغیره... (۳۲) مد متصل وقفي کي د روم په حالت کي صرف توسط وي طول او قصر مع الروم جائز نه دی (۳۳) مد لازم وقفي کي د سکون وقفي په وجه طول کیږي مګر مد لازم په طول کي اولی دی لکه صَوَآفَّ وغیره... (۳۴) که چیري د موقوف علیه ځخه مخکي حرف لین واقع وي لکه رَأْيَ الْعَيْنِ په دې کي طول، توسط، قصر درې سره وجي جائز دي مګر قصر اولی دی. (**فائده**) که چیري د حرف لین ورسته سکون وقفي واقع وي دې ته مد لین عارضي وايي. (۳۵) مد لین عارض کي د روم په حالت کي صرف قصر دی مد کول په دې کي جائز نه دی.

## (شپږم سبق)

د محل د وقف احکام: (۱) په وقف کولو کي محل او قاف مراتب ضروري دي دا نه وي چي وقف تام یا وقف کافي پوری با وجود د ساه د رسیدلو وقف حسن یا وقف قبیح باندي

Maktaba Tul Ishaat.com

وقف وکړي وقف که داسي ځای وسي چي هلته لفظاً او معناً تعلق ختم شي دې ته وقف تام وايي. او که چيري صرف لفظاً تعلق ختم وي نو دا وقف کافي دی او که چيري لفظاً تعلق ختم نه وي نو وقف حسن دی که لفظاً او معناً تعلق ختم نه وي نو په وقف کولو کي څه قباحت لازم راشي نو دا وقف وقف قبيح دی.(۲) د محل او وقف په وجه چي د قرآن شريف په ويلو کي د فهم د معنا او ښايست د قرأة دی له دې سببه چي محل د وقف حکم وي د هغه موافق عمل کول پکار دي.(۳) په وقف کي دريدل او ځنډ کول صرف دومره پکار دي چي ساه په اسانۍ واخلي د دې خلاف جائز نه دي.(۴) که چيري ديوه کس ساه بنده شي نو حسب طاقت ضرورت وقف کي ځنډ وشي ترڅو قرأت په اطمنان سره اداشي مگر ځنډ زيات والی ته وقف نه وايي بلکې داسکوت دی چي د ويلو اراده يې وي (۵) که په ويلو ويلو کي ساه تنگه سي نو د مخه څخه د دې خبري خيال وساته په مينځ کي د کلام وقف نه دي پکار کنه نو وقف غلط دی.(۶) د اختياري وقف لپاره محل د وقف ضروري دی که علامات د وقف وي يا نه وی (۷) اضطراري وقف په ټولو احکامو کي په شان د وقف اختياري دی(۸) په وقف تام باندي ختم د کلام وقف ضروري دی د دې لپاره چي د وقف کلام په پوره کولو دلالت کوي (۹) وقف کافي وقف ښه دی د دې وجي څخه د تعلق لفظي نه کيدل د وقف لپاره اصلي محل دی نو له همدې وجي څخه وقف تام يا وقف کافي باندي د وقف کولو ورسته اعاده (راگرزول) جائز نه دي(۱۰) په وقف حسن باندي وقف کول جائز دي له همدې وجي څخه په وقف کولو کي څه قباحت لازم نه وي البته وقف اختياري بهتر نه دی او شروع يې جائز نه دي.(۱۱) په وقف قبيح باندي وقف اختياري جائز نه دي له همدې وجي څخه چي په وقف کولو کي قباحت لازم راځي.(۱۲) په وقف تام يا وقف کافي باندي د وقف کولو ورسته شروع کول پکار دي او په دي باندي اعاده (راگرزول) نه دي جائز، که د وقف تام يا وقف کافي ځايونه نه پيژني نو په ايات يا په علامه وقف وکړئ(۱۳) په ځای د سکتې وقف جائز نه دی په

علاماتو دوقف سکته ليکلي ده هلته وقف کول جائز نه دي که څه هم سکته ضروري نه وي (۱۴) په وقف حسن يا وقف قبيح باندي دوقف کولو ورسته اعاده (راګرزول) پکاردي (۱۵) په حروفو مقطعاتو باندي وقف کول جائزنه دي که څه هم دمجبورۍ په مينځ کي وقف وشي نو بيا يې ابتداء کول پکار دي مګر په آخري حرف باندي يې وقف کول جائزدي لکه کهيعص وغيره ... بغير دضرورت څخه وقف کول يا په وقف کي بغير له کومي وجي ځنډ کول جائز نه دي

## (اوم سبق)

(علامات دوقف او علامات دوصل داحکامو ۲۱ يو ويشت دي)

(۱) ○: داعلامه دايات دپوره کولو ده ،نوله همدې وجي څخه دې علامې ته ايات وايي:په ايات دريدل مستحب دي (۲) ۃ:داعلامات دايات دمختلف کيدلو دي بعضي وايي:ايات دی بعضي وايي ايات نه دی (۳) م:دادوقف لازم علامه ده په دې باندي وقف کول لازم دي (۴) ط:دادوقف مطلق علامه ده دلته ختم دکلام وقف تام دی له همدې وجي دلته وقف کول ضروري دي (۵) ج:داعلامه دوقف جائز ده په وجه دفهم،دمعنی،اوتحسين قرأت وقف کول ښه دي (۶) ز:دادوقف مجوز علامه ده په دې باندي دوقف کولو اجازه شوېده کله چي دقوي وقف علامه جيم وغيره...ليري وي ولي چي داوقف ضعيف دی (۷) ص:دادوقف مرخص علامه ده په وخت دضرورت کي دوقف کولواجازت شته ولي چي داعلامه دوقف ضعيف ده (۸) ق:داعلامات قيل عليه الوقف دی په دې باندي وقف کول څه زيات تکليف نه لري مګر داوقف هم ضعيف دی (۹) ک:داعلامات کذٰلک دی داعلامه دوقف ورسته واقع وي نوحکم يې دوقف دی اوکه داعلامه دوصل ورسته واقع شوي وي نوحکم يې دوصل دی (۱۰) قفـ:دا قد يوقف

Maktaba Tul Ishaat.com

مخفف دی داصیغه دامر نه دی په دې باندي وقف کول صحیح دي.(۱۱)صَل:داقد
یوصل مخفف دی داصیغه دامر نه ده، په نسبت دوقف وصل ښه دي دادقد یوقف مقابل
دي، قد اوقف دادواړه دضعیفووقفو ډولونه دي مګرپه دې دواړوکي دافرق دی چي
قف په مقابل دصل کي وقف راجح ده اوصل کي وصل راجح دی.(۱۲)صلی:داالوصل
اولی مخفف دی په دې کي دتعلق لفظي په وجه وصل کول پکار دي که څه هم دوقف
حسن علامه ده اوداد جائز وقف صورت دی مګر دوقف کولو ورسته داعادې
(راګرزول)دي.(۱۳)لا:دادلا وقف علیه مخفف دی دادوقف قبیح علامه ده نوله همدې
وجي څخه په دې باندي وقف کول جوازنه لري.(۱۴)قلا:دادوقف مختلف فیه علامه ده
اوقیل لا وقف علیه مخفف دی په دې کي وقف کول ښه کار نه دي.(۱۵) ○:دې ته ایات لا
وایي دلته وقف قبیح نه دي بلکې دایات په وجه وقف جائز دی.(۱۶) ∴ :دادوقف
معانقې علامه ده دقرآن په حاشیه په معانقه مع لیکل شوي وي اودایات په مینځ دوه
ځایه درې درې ټکي لیکل شوي وي لکه په لارَیبَ ∴ فِیهِ ∴ هُدًی لِلْمُتَّقِین وغیره...دوقف
معانقې حکم دادی نه په دواړو ځایو وقف کول کنه نودمینځ کلمه ځیني خرابه سي اونه
په دواړوځایو وصل کول لپاره ددې چي په معنی کي څه تکلیف نه وي نوله دې سببه
وصل اول وقف ثاني یاوقف اول وصل ثاني کول پکار دي.(۱۷)وقفه:لفظ دوقف
وسکته دها سره دالوقف مع السکت مخفف دی یعني ثومره قدر به په وقف کي ځنډ
کوي په دومره ځنډ سره سکته کول داپه حقیقت کي وقف نه دی بلکې سکته طویله ده
داپه داسي ځایونو باندي جائز ده چي هلته وقفه مرسوم وي مګر په دې ځای باندي
اصلي سکته جائز نه دي.(۱۸)وقف النبي صلی الله علیه وسلم:داکلام دقرآن په حاشیه
کي لیکلی وي په داسي ځای باندي وقف کول مستحب دي په مینځ دایات کي په
یولس ۱۱ ځایونو کي له رسول الله ص څخه وقف ثابت شوي دي.(۱۹)وقف منزل:دې ته

وقف جبرائیل هم وايي په دې هم وقف کول مستحب دي، د قرآن کريم د نازلولو په وخت کي چي جبرائيل ع په کوم ځای وقف کوی نو په هغه ځای نبي کريم ص هم وقف کوی، د دي دا مطلب نه دی چي دلته وحيي ختمي شوې(۲۰) وقف غفران: دا هم د قرآن په حاشيه باندي ليکل شوي دي په داسي ځای باندي وقف کولو څخه د معنی وضاحت او دا اوريدلو په والا باندي هم خوشحالي پيدا کوي د دې وجي دې ته وقف غفران وايي دلته دوصل څخه وقف ښه ده.(۲۱) وقف کفران: دا په حاشيه کي داسي ځای ليکلي وي چي په هغه ځای کي د وقف کولو څخه خاص قسم قباحت پيدا کيږي چي د هغه معنی د پيژندلو والا ښه پو هيږي بلکې که اوريدونکی داسي معنی عقيده ولري نو موجب د کفر دی له دې سببه په داسي ځای باندي وقف کول نه دي صحيح.

(اتم سبق)

د سکتې تعريف او د هغه حکمونه: اواز بندول او ساه نه کښل دې ته سکته وايي (۱) د سکې کولو په وخت کي متحرک ساکن کول او دوه زوره والا تنوين په الف سره بدلول (۲) په سکته کي د وقف څخه کم ځنډ وي مګر دومره هم نه چي اوريدونکي لره د سکتې کولو علم نه وي (۳) سکته قسم د وقف څخه ده د دې وجي څخه کيفيت سکته کيفيت وقف په حکم کي ده، د دې سببه زير او پيش والا تنوين په سکته کي حذف کول پکار دي(۴) ځنګه چي سکته موقوف على الوصل وي يعني د وقف کولو څخه د سکتې وجوب او جواز ساقطيږي(۵) د سکتې په حالت کي هم روم هم اشمام جائز دي که څه هم په اداکولو کي څه تکليف نه وي(۶) سکته کول صحيح دي چي هلته سکته ثابته وي نو له دې سببه هر ساکن حرف باندي له سکته کولو څخه ځان وساتي، که چيري حرف

Maktaba Tul Ishaat.com

صحیح ساکن ورسته همزه راشي او هیڅ تکلیف نه وي دا سکته د جزریې په طریقه جائزدي دې سکتې ته لفظي وايي.(۷) د سکتې کولو په وخت حرف مدغم ښه ښکاره ویل پکار دي، من، راق، وغیره...(۸) په محل د وقف سکته کول جائز نه دي، البته: په کوم علامې چي د وقف سکته لیکلي وي هلته جائز ده دارنګه په ایات باندي هم سکته جائز ده .(۹) په آیات باندي روایتا سکته جائز نه ده که چیري د روایت په لحاظ سکته وشي چي هیڅ تکلیف نسته(۱۰) د سکتې علامه (س) دی که آیات وي یا بغیر د ایات وي مګر د ایات په مینځ کي سکته نه لیکل کیږي او نه کول پکار دي.(۱۱) په سکته کولو کي د وقف څخه زیات ځنډ وي داسي سکته کول جائز نه دي د دې وجي څخه د دې ادا موقوف علی النقل دي د دې وجي څخه وقفه لري سکته ویل صحیح نه دي.(۱۲) که د حروفو مد و وڅخه و رسته سکته وشي مثلا: الحمد لله رب العلمین: الرحمن الرحیم: په دې وخت کي مد کول هم جائز دي.(۱۳) که چیري په مد متصل باندي سکته وشي لکه يُصْدِرَ الرِعَاءُ په دې وخت کي د سکون عارضي په وجه طول هم جائز دی او مګر قصر پکي جائز نه دی، او په مد منفصل کي په حالت د سکتې کي مد کول جائز نه دي(۱۴) په سکته کولو کي شروع کول پکار دي په حالت د سکتې کي اعاده (راګرزول )جائز نه دي.(۱۵) په حروفو مقطعاتو باندي لکه حم عسق سکته کول روایتا جائز نه دي د دې حروفو ښه ادا کولو خیال ساتل پکار دي په هر حرف باندي سکته کول نه دي پکار، البته: په میم باندي په وجه د آیات سکته جائز ده.(۱۲) د کومي کلمې په آخر باندي چي هایي سکته وي په هغه باندي په جزد آیات باندي سکته کول جائز نه دي دا قسم کلمات او ه ۷ دانې دي لکه (۱) لَمْ یَتَسَنَهْ سورة بقره کي (۲) اِقْتَدِهِ سورة انعام کي(۳) کِتَابِیَهْ سورة الحاقه کي (۴) حِسَابِیَه سورة الحاقه کي (۵) مالیه سورة الحاقه کي (۲) سلطانیه سورة الحاقه کي.

## (فائده)

سکته دوه قسمه ده:

(۱)لفظي سکته(۲)معنوي سکته:لفظي سکته دوصل په حکم کي ده مګر په روایت حفص کي دا سکته جائز نه ده په جزري صورت دجزري په طریقه سره ده.(۲)معنوي سکته عبارت له هغي سکتې څخه ده کوم چي په آیات باندي لیکلي وي ودې ته سکته معنوي وايي:نوله دې وجي يې معلومول پکار دي چي سکته معنوي دوقف په حکم کي ده اوسکته لفظي دوصل په حکم کي ده.(۱۷)دحضرت حفص رح:په روایت کي په څلورو کلمو سکته کول واجب دي(۱)سورة کهف کي عوجا باندي(۲)سورة یس کي من مرقدنا باندي(۳)په سورة قیامه کي قیل من باندي(۴)سورة مطففین کي کلابل باندي.(۱۸)په علامات دوقف کي صرف من مرقدنا باندي سکته واجب ده،په دې باندي که څه هم وقف لازم دی مګر که وقف ونه کړي نو دسکتې کولو اصلاح واجب دي.(۱۹)دایمو وقف په مینځ دایات کي صرف څلور ځایه دا سکته جائز ده(۱)په سورة اعراف کي ظلمناانفسنا باندي(۲)په سورة اعراف کي اولم یتفکروا باندي(۳)په سورة یوسف کي اعرض عن هذاباندي(۴)په سورة قصص کي یصدرالرعاء باندي.

## (نهم سبق)

د سکوت تعریف او دهغه حکمونه:

دوقف کولو ورسته دقرآن دمعلوماتو متعلق څه ضروري شروع کولو کي څند وشي دې ته سکوت وايي (۱)په سکوت کي هم دوقف په شان ابتداء،اعاده،اراده،دقرأت ضروري ده دسکوت نه ورسته ابتداء نه وي یا په حالت دسکوت کي دویم طرف ته ذهن ونه پاشل شي یااراده دقرأت ختم شي نو سکوت نه وي(۲)سکوت په ټولو احکامو کي

Maktaba Tul Ishaat.com

په شان دوقف وي با وجود دځنډ والي ابتداکولو په وخت کي داستعاذې ضرورت
نسته(۳)په سکوت کي ددریدلو اوځنډ کولو څه اندازه نشته چي ذهن پاشل شوی نه
وي ستالپاره طویل سکوت مناسب نه دی ددې وجي څخه دوقف او سکوت څخه قرأت
افضل دی(۴)په سکوت کي دڅه ویلو اراده وي ستالپاره دکلام اجنبي څخه سکوت
جاري وي(۵)دوخت تیرولو یابد لولوڅخه دسکوت حکم نه ختمیږي په شرط ددې چي
ذهن بل طرف ته منتقل شوی نه وي لکه ټوخ وغیره...داهم دسکوت په حکم کي
دی.(۲)دقاري وقف کولو ورسته تجوید وقرات مسلې طرفته متوجې سي اویاد ایات
دتفسیربیان وي په شرط ددې چي وعظ مقصود نه وي نوپه دې صورتوکي هم سکوت
وي(۷)دمشق کولو اویااوریدلو په وجه په مینځ دقرأت کي چي ځنډ وي(۸)که
دسکوت په حالت کي یوچاته دویلو خبر ورکړي نوصحیح دی(۹)کوم شیان چي
دقرأت مخالف وي دسکوت په حکم کي دي نوددې وجي دشروع کولو په وخت کي بیا
اعوذ بالله ویل پکاردي(۱۰)وقف اضطراري په حالت کي چي ځنډ زیات وي نوپه دې
صورت کي هم سکوت وي(۱۱)چي دایات دتکراریاد سورة ویلووجي څخه دویم ایات
یا دریم سورة له شروع کولو کي څه ځنډ وي هغه سکوت نه دی بلکې هغه قرأت
دی.(۱۲)بغیر دڅه وجي نه سکوت اختیارول داسکوت صحیح نه دي.(۱۳)سکوت هم
قسم دوقف څخه دی مګر سکوت همیشه په آیات باندي وي(۱۴)سکوت
دعلاماتووقف باندي ښه نه دی اومینځ دایات کي جائز نه دی.(۱۵)په ځای دسکتې
سکوت جائز نه دی ولي دامحل دوقف نه دی.

## د قطع تعریف او د هغه حکمونه:

### د وقف کولو ورسته نه ویلو ته قطع ویل کیږي:

(۱) د وقف کولو ورسته که څه هم د ویلو اراده نه وي مګر ویل یې بند نه کړل دې ته قطع نه وایي: (۲) د وقف کولو ورسته بیا نه ویل که څه هم د ویلو اراده وه دې ته قطع وایي: (۳) قطعه د قرأت قطعه دارادې لره لازم دي مګر که څه مانع پیدا شي په دې سره هم قطع وي لکه چي یو کس ته د سلام جواب ورکړې (**فائده**) قطع په دوه ډوله ده: (۱) حقیقي قطعه (۲) اتفاقي قطعه (۱) که یې چیري د تلاوت د ختم مقصود وي دې ته حقیقي قطع وایي: (۲) که چیري په مینځ د قرأت کي څه امر مانع نه وي دې ته اتفاقي قطعه وایي: (۳) په سکوت کي که څه هم د ویلو اراده قطع سوي نه وي مګر که په کومه وجه د قرأت ضد پیدا شي دې ته هم قطع وایي (۴) د قرأت په دوران د څه وجي چي لازم راشي نو د ابتدا کولو په وخت کي اعوذ ویل پکار دي (۵) که چیري بې له کومي وجي سکوت وکړي مګر فورا یې وویل نو باوجود دارادې د قرأت قطع شي نو د دې وجي قطع نه ورسته نه ویل ضروري نه دي کنه نو دریدل او ځنډ یې شرط دي. (۶) د سکوت په حالت کي د ویلو خیال ولاړوي نو دې ته هم قطع وایي (۷) د قرآن ختم کولو کي قطع لازم نه راځي تر څو چي یې د ویلو اراده قطع نه وي

(۸) قطع که څه هم د وقف د قسم څخه ده د دې وجي قطعه په ټولو حکمو کي په شان د وقف ده (۹) څرنګه چي د وقف لپاره دریدل او محل وجود ضروري دی دارنګه د قطعي لپاره مقطع کول ضروري دي. (۱۰) قطعه ختم قرأت ته وایي د دې سببه ختم قرأت یو جز کامل باندي پکار دی که هغه منزل وي یا ختم سورة یا ختم پاره یا نصف یا ربع یا رکوع وي په دې باندي قطع ښه ده چي کله ختم تلاوت مقصود وي (۱۱) د قطعي لپاره

Maktaba Tul Ishaat.com

اصل محل دوه دي چي دهغه کیدل په اسانۍ سره ممکن وي اول رکوع دویم ایات له دې سببه مقطع کیدل ضروري دي (۱۲) په کوم ایات باندي چي علامه دوصل وي په هغه باندي قطع نه وي نوښه دي (۱۳) په مینځ دایات او علامه دوقف باندي قطع هروخت جائز نه ده. (۱۴) دقطع کولو په وخت کي صدق الله العلي العظیم وصدق رسوله النبي الکریم ونحن علی ذلک من الشاهدین والحمد لله رب العلمین وغیره...

(یولسم سبق)

دوقف تعریف اوتقسیم بیان:

دقاري ویلو درولو نوددې څلور اقسام دي:

(۱) که صرف قطع دصوت وي نوسکته وي (۲) که قطع دنفس وي نووقف وي (۳) که دمتعلقاتو قرأت په وجه په وقف کي زیات ځنډ وي نوسکوت وي (۴) که چیري انقطاع دقرأت وي نوقطع وي ددې وجي څخه دقطع ورسته دشروع په حالت کي اعوذبالله ویل ضروري ده ددې ځایه څخه وقف قطع سکته او سکوت فرق هم ښکاره شو (۱) وقف (۲) سکته (۳) سکوت (۴) قطع (۵) ابتدا

(۲) اعاده (۷) وصل دي دې او ۷ ته قراء محلقات قرأت وایي.

(**وقف**) عبارت ده له دې څخه چي دساه او اوازماتول اودریدل دې ته وقف وایي. (**وقف اضطراري**) داوقف بغیر دقصد وي قاري قرأت وایي ستړی سي اویایې هیر سي یایې ساه تنګه سي دې ته وقف اضطراري وایي داوقف په هره کلمه مقطوعه باندي کیږي (**وقف اختیاري**) داوقف په قصد لپاره داستراحت ودریږي دې وقف ته اختیاري وایي داوقف داسي ځای کیږي چي هلته وقف تام یاوقف کافي یاڅه علامه دوقف وي نوپه مینځ کي یې دریدل ښه نه دي (**وقف انتظاري**) اوکه دوجي مختلف په پوره کولو

انتظار کي د کلمې مختلف باندي وقف نه ورسته وشي دې ته وقف انتظاري وايي داوقف جمله د قرآء دا ختلاف د پوره کولو په وخت کي وي

## (وقف اختباري)

د خپل ځان او نورو پوهولو په غرض په يوه کلمه باندي امتحانا وقف وکړي لکه امتحانا د کلمې محذوفي ثابتول او زائد حرف د کلمې څخه حذف کول يا کلمه جلا او يو ځای پيژندل يا کيفيت وقف معلومول نو دې وقف ته وقف اختباري وايي، په هره کلمه مقطوعه باندي د فهم او تفهيم په غرض باندي کيږي

## (دولسم سبق)

## (ابتداء بيان)

ابتداء يعني شروع کول يا د موقوف عليه څخه ورسته ويل څرنګه چي د وقف نه ورسته شروع کيږي د دې سببه د معرفت وقف نه ورسته ابتداء د معرفت هم ضروري ده، اهل فن د دې څخه د ابتداء بحث کوي بيا پيژندلو د ابتداء کي د دوو خبرو پيژندل ضروري دي يعني اول کيفيت د ابتداء دويم محل د ابتداء لپاره د دې چي قاري پې بې قاعدې او بې محل ابتداء ونه کړي د ابتداء څلور صورتونه دي:(۱) د قرآن ابتداء ودې ته ابتداء حقيقي وايي (۲) د وقف نه ورسته ابتداء دې ابتداء ته اصطلاحي وايي (۳) د قرآن ختمولو نه ورسته بيا قرآن کريم شروع کول دې ابتداء ته حکمي وايي (۴) که چيري څوک يو سورة ختم کړي دويم سورة او يا بيرته هغه سورت شروع کړي دې ته ابتداء تقريري وايي او که د قطع نه ورسته ابتداء وسي نو دا ابتداء حقيقي ده او تقريري باندي بسم الله ويل ضروري دي او په اصطلاحي ابتداء کي نه اعوذ او نه بسم الله ويل کيږي (۱) کيفيت

Maktaba Tul Ishaat.com

ابتداء يعني دوقف كولو ورسته بيا شروع كول ضروري دي دهغه صرف يو صورت دی يعني ابتداء بالحركت مگر چي دكومي كلمې څخه شروع وشي كه دهغه اول حرف متحرک وي نو ابتداء په حركت سره كيږي او كه ساكن وي نو بيا يې وګوره چي داكلمه اسم ده او كه فعل ده كه اسم وي نو همزه مكسوري سره ابتداء كيږي او كه چيري لام تعريف وي نو همزه مفتوحه ويل كيږي او كه چيري شروع د ساكن فعل وي نو ويې ګوره چي د فعل دريم حرف ضمه اصلي وي نو همزه مضمومه وي او كه ضمه عارضي وي نو همزه مكسوره وي (۲) محل ابتداء يعني د داسي ځاى نو پيژندل په كوم ځاى كي چي دوقف نه ورسته داعادې ضرورت نه وي ولي دوقف نه ورسته كله ابتداء وي كله اعاده بيا ابتداء په هر وقف تام او وقف كافي او علامات وقف او ايات نه ورسته وشي كه قاري وقف تام وكړي نو ابتداءهم تامه وي كه ابتداء حسن وكړي نو ابتداء هم حسن وي

(دیارلسم سبق)

## (داعادې بيان)

اعاده يعني دوقف كولو ورسته دكلمې موقوف عليه څخه يا دماقبل څخه شروع كول داكيفيت اعاده په حكم كي دابتداء وي څرنګه چي ابتداء وي همدارنګه اعاده وي ولي صورتا دابتداء وي مګر محل اعاده او محل ابتداء كي مخكي او ورسته فرق وي داعادې افاده وصل دی ولي وصل كي ربط دكلام دی او اعاده كي هم ربط دكلام دی مګر اعاده ورسته قطع دنفس وي او وصل بغير قطع دنفس وي كه چيري بيا په وقف حسن او وقف قبيح باندي وقف وشي نو اعاده دي وكړي بعض ځاى كي بې محله اعاده هم لازميږي په قالو ان الله فقير باندي وقف وي او يا اعاده ان الله څخه نو داسي اعاده قبيح وي نو له داسي اعادې څخه ځان ساتل ضروري دي

## (شورلسم سبق)

## (دوصل بيان)

په وصل کي ساه او اواز جاري وي ويل بې دوقف ضد دی ددې دوه صورته دي(۱) اتصال دحرف په حرف آخر، ددې حکم دادی چي کلمات او اجزاء او دکلام متعلقات دیو بل سره یوځای ویل دا په قرأت کي اصل دي دې ته وصلي حقیقي وايي.(۲) اتصال موقوف په وقف آخر، ددې حکم دادی چي په سرعت (تیز والي ) کي په محل او قاف باندي وقف ونه کړي بلکې یوموقوف دبل موقوف سره یوځای ویل دا په حدر کي اصل دي دې ته وصلي اصطلاحي وايي، په دې کي هم کیفیت وصل او محل وصل پیژندل ضروري دي اول کیفیت وصل یعني دوصلي قواعدو نوم معلومول چي څرنګه وصل کول پکار دي دهغه دوه قسمه دي(۱) وصل اصطلاحي (۲) وصل دوقف په نیت (۱) وصل اصطلاحي یعني دموقوف علیه په کلماتو کي چي یوه کلمه دبلي کلمې سره وصل مقصود وي نو ددې کلمې آخر دهغه سره یوځای شي او ددوهمي کلمې اول دهغه سره یوځای شي ددې دواړو کلمو اول او آخر حرف او سکون په اعتبار سره څلور صورته جوړيږي (۱) دواړه متحرک وي (۲) دواړه ساکن وي (۳) اول متحرک دویم ساکن وي (۴) اول ساکن دویم متحرک وي، دا څلور صورته به انشاءالله جلا جلا او په تفصیل سره بیان شي (۱) وصل حرکت بالحرکت په دې صورت کي پکار دي چي قاري اعراب او حرکات ښه ښکاره ووايي ولي په حالت دوصل کي حرکات ښکاره کول ضروري دي لکه تَبَّتْ يَدَآ أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ مَا اَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وغیره...(۲) وصل سکون بالسکون په دې صورت کي که اول ساکن حرف مده وي نو حرف غورځول کیږي لکه وَاَخْفَى ۝اَللّٰهُ او تَعْدِلُوا اِعْدِلُوا او هَرُوْنَ اَخِي ۝اُشْدُدْ بِه وغیره...او ساکن من جار لکه من الله یا ساکن میم الم کي لکه الم الله په دې دوو صورتو کي اول ساکن ته دوصل په حالت کي زور

Maktaba Tul Ishaat.com

ورکول کیږي.(۳) وصل حرکت بالسکون: په دې صورت کې د اولي کلمې آخري حرکت ته د دوهمي کلمې د سکون سره یو ځای وو ایي لکه وَاِیَّاکَ نَسْتَعِینُ اِهْدِنَا: په دې صورت کي د دوهمي کلمې همزه عارضي غورځي مګر دلته دوصل څخه وقف نه دی.(۴) وصل سکون بالحرکت: په دې صورت کي د اولي کلمې اخرسکون او د دوهمي کلمې د شروع حرکت دواړه صاف اداکول پکار دي لکه فَاِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ وَاِلٰی رَبِکَ فَارْغَبْ وغیره...(دوهم قسم وصل په نیت دوقف) یعني بغیر د ساه او اوازبنده وي ویل د حکم وقف ورکول د اډول وصل په اوو ۷ کلماتو کي راځي چي عبارت دي له (۱) لَمْ یَتَسَنَّه سورة بقره کي (۲) اقتده په سورت انعام کي (۳) کتابیه (۴) حسابیه دواړه دوه ځایه (۵) مالیه (۲) سلطانیه دوه ځایه په سورة حاقه کي (۷) ماهیه په سورة القارعه کي د دې کلماتو په آخر کي چي هاده دې ته هایي سکته وایي په محاوره عرب کي په حالت دوقف په آخر کلمه کي دي دې قسم هاي ساکن زائد وي په دې کلماتو کي وصل په نیت دوقف اطلاق کیږي وصل په نیت دوقف ومطلب دادی چي وصل په حالت کي وقف قاعده جاري کول او څرنګه چي ها په کلام د عربو کي وقف سره خاص وي د دې وجي دې ته هاي سکته وايي. دلته سکته او وصل په نیت دوقف د دواړو فرق هم معلوم سوولي وصل په نیت دوقف کي اواز بالکل بند نه وي او په سکته کي اوازبند وي

**ومن الله توفيق**

تمت بالخیر

**کمپوزنګ ابو احمد سعادت**

بسم الله الرحمن الرحيم

نحمده ونصلي علی رسوله الکريم

اما بعد ؛ قاري مقري لپاره د څلورو علومو پېژندل ضروري دي په هغوی کی علم رسم خط عثمانی هم دی او دا يو عظيم الشان فن دی د قرائت د درو رکنونو څخه يو مستقل رکن دی ديو علم او د يو فن هغه حصه چی د هغه علم ابتدائی شيان لکه تعريف موضوع غرض وغيره شيان بيانيږي

اول تعريف د علم او رسم څخه دا قواعد دی د دی پيژندلو ورسته ليکلو والا رسم غلطيو څخه محفوظ وي

دوهم: موضوع همزه الف هغه کلمات چی هغه يو بل څخه جلا وي يا يو ليکل ضروري وي او هغه حروف چی بدليدل يا اضافه او کم کولو کی ليکل کيږي

دريم: فايده د کاتب قلم د رسم غلطيو څخه محفوظ وي

څلورم: حکم وجوب کفايه دی ولی کتابت شکل په شان د فنونو واجب علی الکفايه دی

پنځم: په هر علم کی د هغه ضرورت وي د ټولو علومو تدوين او د هغه حفاظت په کتابت باندی موقوف وي

شپږم: کتابت د ګوتو سره تعلق دی دا رنګه لکه نحوا د ژبی سره منطق د دليل سره

اووم: فن د دی بنيادي د صرفي اوصولو او نحوي قاعدو باندی دي اتم: علم الرسم واضعين علماء بصره او کوفه دي

Maktaba Tul Ishaat.com

## د رسم اقسام

د دی رسم په دوه قسم دی " اول رسم قیاسي یعنې مرسوم مطابق ملفوظ بالاتفاق وي د دی رسم دوه قسمه دی

١ رسم قیاسی مطلق یعنی مرسوم مطابق ملفوظ بالا تفاق وي لکه مَلکِ النّاسِ

٢ رسم قیاسي مقید یعني مرسوم د خاص قرائت مطابق ملفوظ وي لکه مٰلکِ یَوْمِ الدِّیْن په قرائت د حذف د الف که څه هم د رسم قیاسی قسم دی مگر په حکم کې رسم غیری قیاسی دی ولی دا سی رسم

څه نه څه مخالف قرائت ویل کېږي اورسم قیاسی مطلق د احتیاج بیان نه دی. ولی دا رسم د عقل او اصل موافق دی.

دوهم رسم غیری قیاسی: یعنی مرسوم موافق نه ویل کېږی یا موافق د اصل نه وي د هغه څو صورتونه دی

اول ابدال یعنی ملفوظ حرف پر ځائ دوهم حرف لیکل شوئ وي لکه صَلٰوةٌ

دوهم حذف یعنی چی د حرف ویلو لره نه لیکل کېږی لکه سلمٌ وغیره

دریم اثبات یعنی چی حرف نه ویلو لره لیکل لکه بِاَیدٍ وغیره

څلورم وصل یعنی دوې کلمی یو ځائ لیکل لکه بِئسَمَا وغیره. دی ته موصول وایی او که چیری دوې کلمی جلا لیکلی وي هغه ته مقطوع وایی د دی رسم غیري قیاسي دوه قسمه دي

اول رسم اصطلاحي: یعنی مرسوم مخالف او ملفوظ وي بغیر د احتمال اختلاف قرائت

لکه: لاالی اللهِ

دوهم رسم احتمالي: یعنی هغه رسم چی مختلف قرأتونه شامل وي او احتمال یی وي لکه یَعلمُونَ او تَعلمُونَ چی رسماً دواړه یو دي ولی اصل رسم عثماني غیري منقوط او غیري معرب وي.

په اعتبار د محل همزه په درئ قسمه ده

اول همزه مبتدیه دوهم همزه متوسطه دریم همزه متطرفه

اول همزه مبتدیه: هغه همزی ته وایي چی د کلمی په شروع کې وي لکه الحَمدُ وغیره

دوهم همزه متوسطه: هغه همزی ته وایي چی د کلمی په میانځ کې واقع وي لکه یُؤمِنُونَ وغیره

دریم همزه متطرفه: هغه همزی ته ویل کیږي چی د کلمی په اخر کې وي لکه جآءَ شآءَ وغیره

او س د دی درئ (۳) قسمو بیان جلا جلا راځي.

## اول فصل

### (د همزی مبتدیی د رسم بیان)

(قاعده): چی همزه منفریده متحرکه په شروع په کلمه کې وي هغه هر ځائ د الف په شکل لیکل کیږي. لکه اعوذ. اِهدنا او أولئِکَ مگر أولئِکَ - فأولئِکَ. أولئِکم.

Maktaba Tul Ishaat.com

أولوا ـ أولی ـ أولاتِ الأحمَالِ او سَاوريكم په سورة الاعراف کې دي او سَاورِيكم اياتِی چی په سورة انبيا کې دي د دی کلماتونه وروسته همزه بغير د اختلافو د واو د زياتوالي سره مرسوم دي او ولأوصَلبَنّكم کې اختلاف دئ يعنی په بعضو مصاحفو کې وروسته د همزی نه واو ليکل شوي دی او په بعضو کې نه دي ليکل شوي

(فايده): که چيری همزه مبتديه په څه وجه متوسطه وي چی هغه همزی ته متوسطه بزوائد وايي چی هميشه د الف په شکل ليکل کېږي لکه سَاصرِف او اَفَانتَ وغيره مګر هؤلَاءِ او يابنَئُومَ کې همزه په شکل د واو مرسوم دي دارنګه لئِنلم ـ لئِلا او يَومَئِذٍ ـ حَينَئِذٍ وغيره کې همزه په شکل د ياء مرسوم دي (قاعده) که د يوي کلمی په شروع کې دوې همزی جمع وي او دواړه متحرکې وي نو اوله همزه مخذوفه وي او دوهمه همزه په سورت د الف مرسوم وي لکه ءَانذَرتَهُم ـ ءَانَا ـ ءَأنزِلَ وغيره مګر ائِنَا دويم صافات کې او نمل کې دي او ائِنَکَ چی په سورة يوسف کې دي او پنځه کلمات يعنی ائِن ذُکِرتُم او ائفکًا او ائِذامِتنَا سورة واقعه کې او د لفظ د ائِمَّةًاو ائِنَکم چی په کوم ځائ کی وي دا ټولی همزی په شکل د ياء مرسوم دي اؤُنَبِئُکم کې همزه دويمه په شکل د واو مرسوم ده

## دوهم فصل

## (د همزی متوسطی د رسم بيان)

د همزی متوسطی درئ صورته دي

اول همزه متحرک ماقبل ساکن: دوهم همزه متحرک ماقبل متحرک وي: دريم همزه ساکن ماقبل متحرک وي (قاعده): که چيری همزه متحرک او ماقبل يی ساکن وي او همزه مخذوف وي لکه تَجئَرُونَ ـ سَوءَةَ ـ اَبآءَنا ـ جآءَهُم ـ سِيئَت وغيره مګر همزه

مضمومه وروسته د الف په صورت واو مرسوم وي لکه جَزَآؤُکُم وغیره مګر سورة بقره کې اُولِیِئُهُم او په سورة انعام کې وَقَال اُولِیَئُهُم او په سورة فصلت کې نَحنُ اُولِیَئُکُم کې الف او همزه دواړه مخذوف دي او اِن اُولِیَآءُهُ اِلَّا الْمُتَقُون کې الف مرسوم دي مګر په خذف د همزه کې اختلاف دئ او همزه یې مکسوره وروسته د الف څخه د یاء په شکل لیکلي وي لکه اَلغَآئِطِ وغیره

قاعده: همزه متحرکه ماقبل متحرک په صورت کې که چیرې همزه مفتوح او ماقبل یې هم مفتوح وي نو همزه د الف په صورت لیکلي وي لکه سَاَلَ وغیره او که چیرې ماقبل یې مضموم وي نو همزه په شکل د واو سره لیکل کېږي لکه بَسُؤَالِ او مُؤَجَّلًا وغیره او که چیرې ماقبل یې مکسوروي نو همزه په شکل د یاء سره لیکل کېږي لکه خَاطِئَةٍ وغیره او که چیرې همزه مضموم او ماقبل مکسور وي نو همزه د یاء په شکل سره لیکل کېږي لکه سَنُقرِئُکَ او که یې ماقبل مفتوح وي نو همزه د واو په شکل سره لیکل کېږي لکه یَذرَؤُهُم وغیره او که چیرې همزه مکسوره او ماقبل یې مضموم وي نو همزه په شکل د یاء سره لیکل کېږی لکه سُئِلُوا الفِتنَةَ

فایده: که چیرې د همزې مفتوحې وروسته الف یا همزه مضمومې وروسته واو مده یا همزه مکسورې وروسته یا مده وي نو همزه مخذوف وي لکه شنانُ او رُءُوسِکُم او خَاسِئِینَ وغیره

(قاعده) که چیرې همزه ساکن او ماقبل متحرک وي نو د همزې رسم ماقبل د متحرک حرف موافق وي لکه شَانُ او مُؤمِنِینَ او جئتَ وغیره مګر رُؤ یا او رِءُیا کې همزه مخذوف الرسم وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

## دریم فصل

### (دهمزی متطرفي د رسم بیان)

دهمزی متطرفي درئ صورته دی

اول همزه متحرک ماقبل ساکن دوهم همزه متحرک ماقبل متحرک دریم همزه ساکن ماقبل متحرک.

(قاعده): که چیری همزه متحرک ماقبل یی ساکن وي نو همزه هر ځای مخذوف وي لکه مَلءُ ألاض او النَسِيئُ-السُوءَ او جَآءَ-شَآءَ او شَيءٌ-سَوءٌ-سَوءٍ وغیره مګر ان تَبُواَ بِاِثمِي او لَتنُؤُا بِالعُصبَةِ کې همزه په شکل دالف لیکل شوي دد.

(قاعده) که چیری همزه متحرکه اوماقبل يي هم متحرک وي نو په دی صورت کې دهمزی حرکت اودماقبل دحرکت موافق وي نو همزه دخپل حرکت موافق لیکل کیږی لکه مَلجَاَ مِنَ اللهِ او کُلّ امرِئٍ وغیره اوکه مخالف وي نو همزه دخپل حرکت موافق لیکل کیږی لِسبَاٍ او يَستَهزِئُ بِهِم او يَستَهزِئُ بِهَا او مَلأ وغیره.

(فایده) په کوم ځای کې چی همزه مضمومی وروسته الف مرسوم وي نو هلته همزه مضمومه په شکل دواو لیکل کیږی اودا قسم کلمات په لاندی ډول دی لکه اِن امرُؤٌا هَلَکَ په سورة النساء کې اونَبَؤُا الذِينَ په سورة ابراهیم او تغابن کې اونَبَؤُا عَظِيمٌ -نَبَؤُا الخَصمِ په سورة ص کې او تَفتَؤُا په سورةیوسف کې او يتَفَيَؤُا په سورة نحل کې او اَتَوَکؤُا اولا تَظمَؤُا په سورة طه کې وَيَدرَؤُ په سورة نور کې او قُل مَا يَعبَؤُا په سورة فرقان کې او وَيَبدَؤُا الخَلقَ چی هر ځای راسی او اَوَمَن يَنشُؤُا په سورة زخرف کې او يُنَبَؤُا الاِنسَانَ په سورة قیامة کې او فَقَالَ المَلأ اول په سورة المؤمنون کې او

يٰأَيهَاالملؤا انى القى او يا ايهاالملؤا افتونى او يا ايهَاالمَلؤا ايُكم دادرى سره كلمات په سورة نمل کې دی

(قاعده) که چیری همزه ساکن او ماقبل یې متحرک وي نو همزه د ماقبل حرکت موافق لیکل کیږی.

لکه اِيْشَأ او هَيِّىءِ وغيره.

## څلورم فصل

### (د مقطوع او موصول په بیان کې)

د کلماتو په رسم کې اصل دادی چی هر دوې کلمي مقطوع یعنی جلا جلا لیکل سوي وي لکن دوې کلمي په ټول قرآن کې موصول مرسوم دي یا بعضی ځای مقطوع او بعضی ځای موصول یا بعضی ځای مختلف فیه وي بیا په خلاف د اصل کې یو څو کلمات دا دي اول ان لا. ان مخففه په فتحی د همزی دلا سره هر ځای موصول یعنی د هغه نون غیر مرسوم وي لکه-الاتعبُدُ- او نور لکن په لسو ځایو کې جلا وي دوه ځایه په سورة اعراف کې(۱) ان لا اقولَ(۲) ان لا يقُولو(۳) په سورة توبه ان لا مَلجَأ(۴) په سورة هود په دويم ځای کې ان لا تعبُدُو (۵) په دغه سورة هود کې ان لا اِلهَ اِلا هُوَ(۶) په سورة حج کې ان لا تُشرِک بِی (۷) په سورة یسن کې ان لا تَعبُدُوا الشّيطن(۸) په سورة دخان کې ان لا تعلوا (۹) په سورة ممتحنة کې ان لا يَشرِكنَ(۱۰) په سورة نون کې ان لا يَدخُلَنهَا اليَومَ دوهم اِن مَا - اِن مخففه په کسری د همزی هر ځای د ما سره یو ځای وي مگر صرف په سورة رعد کې وَاِن مَانُرِيَنّکَ جلا لیکل سوي وي دريم ان لن اِن مخففه په فتحی د همزی د لن سره دوه ځایه موصول وي ،

اول: په سورة کهف کې ان لن نَجعَلَ لکم مَوعِداً

Maktaba Tul Ishaat.com

دوهم: په سورة قيامة کې ان لن نجمعَ عظامَهُ پاته په هرځای کی مقطوع وي مگر ان لن تُحصُوهُ چی په سورة مزمل کې دي هغه مختلف فيه دی.

څلورم: مِن مَا مِن په کسری میم ما سره هرځای موصول وي لکه مِمّارَزَقنٰهُم او مِمّ خُلِقَ وغیره مگر په سورة روم کې مِن مَاملکت ایمانکم او په سورة نساء کې فَمِن مَاملکت اَیمَانُکم او په سورة منافقون کې مِن مَارَزَقنٰکم مقطوع دی اگاهی په مثل مِن مَالله او مِن مَاءٍ وغیره کې هرځای مقطوع وي

پنځم: مِن مَن په کسری د میم سره مِن په فتحی د میم سره مَن هرځای موصول وي لکه مِمَّن مَنَعَ وغیره

شپږم: عَن مَا عَن سره ما هرځای موصول وي لکن عَن مَانُهُوا عَنهُ مقطوع وي ،

اووم: عَن مَن عَن د مَن سره دوه ځای راغلی دی او دواړه ځای مقطوع یعنی په سورة نور کې عَن مَن يَشَاءُ او سورة نجم کې عَن مَن تَوَلّی دا قطع د اصل د رسم موافق ده او بیان ته احتیاج نه لري لکن کلمه د مَن څنګه چی بعض کلمات ام او مِن جاره وغیره سره موصول راغلی دي د دی وجی څخه د دی دوصل هم وهم وي لهذا دا بیان څخه دا وهم دفع سو د داسی ځایو توجیه لره په دی باندی قیاس کول پکار دی

اتم: فَاِن لم - فَاِن سره د لم صرف یو ځای یعنی په سورة هود کې فَاِن لم يَستَجِيبُوا لکم موصول دی باقی هرځای مقطوع دی

نهم: اَمَّن ام سره د مِن مفتوحه هر ځایٔ موصول وي مگر په سورة نساء کې ام مَن يَكُونُ عَلَيهِم وَكِيلا او په سورة توبه کې ام مَن اَسّسَ او په سورة صافات کې ام مَن خلقنَا او په سورة فصلت کې ام مَن يَاتِی اٰمِنًا کې مقطوع لیکل سوي دی-

لسم: أنّ مَا أنّ مفتوحه مشدده سره دما هر ځائ موصول وي لكن دوه ځايه أنّ مَا يَدعُونَ بو په سورة حج كې دويم په سورة لقمان كې بالاتفاق مقطوع دي لكن په سورة انفال كې وَاعلمُوْا انما غَنِمتُم مختلف فيه دي او كا نّمَا هر ځائ موصول وي لكه كَانّمَا يُساقُونَ وغيره

يوولسم: اِنّ مَا ـ اِنَ مكسوره مشدده سره د ما هر ځائ موصول وي لكن اِنّ مَا تُوعَدُونَ لَاتٍ په سورة انعام كې مقطوع وي

دوولسم: كُلّ سره د ما ځلور ځايه بغير د اختلافه موصول وي ،(۱) په سورة نساء كې كُلَّمَا رُدُّوْا إلَى الفِتْنَةِ، (۲) په سورة اعراف كې كُلَّمَا دَخَلَت، (۳) په سورة مؤمنون كې كُلَّمَا جَاءَ أمّةٌ ،(۴) په سورة ملك كې كُلَّمَا اُلقِيَ ـ او مِن كُلِّ مَا سَاَلتُمُوهُ په سورة ابراهيم كې بالاتفاق مقطوع وي

ديارلسم: فِي مَا ـ فی سره دما هر ځائ موصول دی لكن په يولس ځايو كې مقطوع دی (۱) فِي مَا فَعَلنَ دويم په سورة البقرة كې (۲) لِيَبلُوكُم فِي مَا اتكم په سورة مائدة كې (۳) قُل لَا اَجِدُ فِي مَا أُوحِيَ په سورة انعام كې (۴) لِيَبلُوكُم فِي مَا اٰتٰكُم په سورة انعام كې (۵) فِي مَا اشتَهَت په سورة انبيا كې (۶) فِي مَا اَفَضتُم په سورة نور كې (۷) فِيمَا هٰهُنَا په سورة شعراء كې مگر ځنى په دى وود كې مقطوع كولو كې اختلاف كريدئ (۸) فِي مَا رَزَقنٰكُم په سورة الروم كې (۹) فِي مَا هُم په سورة زمر كې (۱۰) فِي مَا كَانُو په سورة زمر كې (۱۱) فِي مَا لَا تَعلَمُون په سورة واقعه كې

څوارلسم: أين سره دما دوه ځايه بالاتفاق موصول دی (۱) په سورة البقرة كې فَاينَمَا تُوَلُّوا (۲) په سورة النحل كې اَينَمَا يُوَجِّههُ او درئ ځايه مختلف فيه دی (۱) په سورة النساء كې اَينَمَا تَكُونُوا (۲) په سورة شعراء كې اَينَمَا كُنتُم (۳) په سورة احزاب كې اَينَمَا ثُقِفُوْا او په پاته ځايو كې بالاتفاق مقطوع وي

Maktaba Tul Ishaat.com

پنځلسم: حَیثُ مَا ـ حَیثُ سره د مَا صرف په سورة البقره کې دوه ځایه راغلي دي او دواړه مقطوع دی

شپاړلسم: بِئسَمَا ـ بِئسَ سره د ما صرف دری ځائ موصول دی دوه په سورة البقره کې قُل بِئسَمَا دریم په سورة اعراف کې بِئسَمَا او پاته بِئسَ ـ ما مقطوع دی او لَبِئسَ سره په هر ځای مقطوع دی

اوولسم: لِکیلا ـ کې سره د لا ځلور ځای موصول دي (۱) په سورة آل عمران کې لِکیلَا تَحزَنُوْا (۲) په سورة حج کې لِکیلا یَعلمَ (۳) په سورة احزاب کې لِکیلا یَکُون (۴) په سورة حدید کې لِکیلا تَاسَوْا پاته هرځای مقطوع دی

اتلسم: مَالِ ـ لام جاره د خپل مدخول ځخه موصول وي لکن ځلور ځائ مقطوع دی (۱) په سورة النساء کې فمَالِ (۲) په سورة کهف کې مَالِ (۳) په سورة الفرقان کې مَالِ (۴) په سورة معارج کې فمَالِ الذینَ

نوولسم: یَومِ هُمْ سره د هُم ضمیر په هر ځای کې موصول وي لکه مِن یَومِهِمُ الذِی لکن دوه ځای مقطوع وي ، (۱) په سورة مؤمن کې یَومَ هُم بارِزُونَ (۲) په سورة الذاریات کې یَوْمَ هُم عَلَی النَّارِ یَفتَنُونَ

شلم: وَیکَانَ ـ وَی سره د کَاَن په سورة قصص کې دوه ځای راغلی دي، (۱) ویکَانَ اللہَ (۲) وَیکَانَهُ او دواړه ځای موصول او موسوم دي،

یوویشتم: لَاتَ حِینَ مَنَاصٍ چی په سورة صاد کې د ي ، تا لفظ حَینَ سره موصول لیکلو کې اختلاف دی لکن اکثره مقطوع نقل کړی دی

دوویشتم: کلمه کَالو ـ اووَزَنُو سره د هُمْ ضمیر موصول وي یعنی وروسته د واو جمعې الف غیر مرسوم وي لکه په اُورِثتُمُوهَا کې

## «پنځم د فصل»

### تای تانیث بیان:

هغه تا ته وایی چې د اسماء او افعالو په اخر کې زائده وي لکن په افعالو کې تای تانیث همیشه ساکن وي یا مکسور وي او همیشه اوږده تا لیکل کېږي چې هغه ته تایی مجروره یا تایی مطوله وایی لکه سَمِعتَ وغیره لکن د دو د اسماؤ په رسم کې اختلاف دی کله تای مجروره لیکل کېږي او کله ګول تا په شکل د ها لیکل کېږي چې هغه ته تای مربوته یا مدوره وایی

(اول قاعده) اسماءمؤنث بالتاء کله مضاف وي او کله مفرد او د دوی مضاف او مضاف الیه کله اسم ظاهر وي کله ضمیر پسی مؤنث بالتاء مفرد کې تا همیشه مربوته مرسوم وي لکه مِن رَبِّهِم وَرَحمَةٌ وغیره او مؤنث بالتاء مضاف کې تا هم مربوته وي لکه وَاِن تَعُدُّ وانعِمَتَ اللهِ په سورة نحل کې مګر یو څو کلماتو کې څو ځای تای مجروره مرسوم وي

اول: رَحمَت د دی تاء صرف ۷ ځایه مجروره وي، (۱) په سورة البقرة کې یَرجُون رَحمَتَ الله. (۲) په سورة اعراف کې اِنّ رَحمَتَ الله، (۳) په سورة هود کې رَحمَتُ اللهِ وَبَرَکَاتُه، (۴) په سورة مریم کې ذِکرُرَحمَتِ رَبِّکَ، (۵) په سورة روم کې فانظُرالِی آثارِرَحمتِ الله.(۶) په سورة زخرف کې اَهُم یَقسِمُونَ رَحمَتَ رَبِّکَ، (۷) په سورة زخرف کې وَرَحمَتُ رَبِّکَ خَیرٌمِمَّا یَجمَعُونَ

دوهم: نعمَت د دی تا ۹ ځایه مجروره ده.(۱) په سورة البقرة کې وَذکُرُوا نِعمَتَ الله (۲) په سورة ابراهیم کې بَدّلوا نعمَتَ الله کُفرًا ، (۳) په سورة ابراهیم کې وَاِن تَعُدُّوانعِمَتَ اللهِ. (۴) په سورة نحل کې وَبِنِعمَتَ اللهِ هُم کفُرُونَ، (۵) په سورة نحل کې

Maktaba Tul Ishaat.com

يَعرِفُونَ نِعمَتَ اللهِ، (٦) په سورة نحل کې وَاشكُرُوا نِعمَتَ اللهِ، (٧) په سورة لقمان کې بِنِعمَتَ اللهِ لِيُرِيكُم مِّن اٰيٰتِه، (٨) په سورة فاطر کې اُذكُرُوا نِعمَتَ اللهِ عَلَيكُم، (٩) په سورة طور کې بِنِعمَتِ رَبِّکَ،

دريم: سُنَّتُ ددې تاء صرف پنځه ځايه مجروره ده (١) په سورة انفال کې فَقَد مَضَت سُنَّتَ الاوَلِينَ (٢) په سورة فاطر کې اِلا سُنَّتَ الاوَلِينَ (٣) په سورة فاطر کې فَلَن تَجِدَ لِسَنَّتِ الله تَبدِيلًا (۴) په سورة فاطر کې وَلَن تَجِدَ لِسَنَّتِ الله تَحوِيلًا (۵) په سورة مؤمن کې سَنَّتَ اللهِ الَّتِي قَد خَلَت فِي عِبَادِهِ

څلورم: اِمرَأَتُ ددې تاء صرف اووه ۷ ځاى مجروره ده، (١) په سورة آل عمران کې اِذ قَالَتِ امرَأَتُ عِمرَانَ (٢) په سورة يوسف کې اِمرَأَتُ العَزِيزِ (٣) په سورة يوسف کې قَالَتِ امرَأَتُ العَزِيزِ (۴) په سورة قصص کې وقَالَتِ امرَأَتُ فِرعَونَ (۵) په سورة تحريم کې اِمرَأَتَ نُوحٍ (٦) په سورة تحريم کې اِمرَأَتَ لُوطٍ (٧) په سورة تحريم کې اِمرَأَتَ فِرعَونَ

پنځم: مَعصِيَت ددې تا دوه ځايه صرف په سورة مجادله کې مجروره ده (١) وَمَعصِيَتِ الرَّسُولَ (٢) وَمَعصِيَتِ الرَّسُولَ وَتَنَاجَوا

شپږم: لعنت ددې تا صرف دوه ځايه مجروره ده (١) په سورة آل عمران کې فَنَجعَل لَعنَتَ اللهِ عَلَى الكَاذِبِينَ (٢) په سورة نور کې وَالخَامِسَةُ اَنَّ لَعنَتَ اللهِ د دغه رنګه په سورة اعراف کې كَلِمَتُ رَبِّکَ الحُسنَى او په سورة هود کې بَقِيَّتُ اللهِ او په سورة قصص کې قُرَّتُ عَينٍ او په سورة روم کې فِطرَتَ اللهِ او په سورة دخان کې اِنَّ شَجَرَتَ الزَّقُّومِ او په سورة واقعه کې وَجَنَّتُ نَعِيمٍ او په سورة تحريم کې وَمَريَمَ ابنَتَ عِمرَانَ تا هم مجروره وي

(۲ قاعده) که چیری تای تانیث های ضمیر طرف ته مضاف وي نو همیشه تا مضمومه وي لکه رَحمَتُهُ عَلیکُم وغیره

(۳ قاعده) چی کوم اسماء مؤنثه بالتاء مفرد او جمع په ویلو کې د قاریانو اختلاف وي د هغی تا همیشه مضمومه وي دا قسم کلمات ۱۲ دولس دي (۱) په سورة انعام کې وَتَمت کَلِمَتُ رَبِّکَ (۲) په سورة یونس کې کَلِمَتُ رَبِّکَ (۳) په سورة یونس کې کَلِمَتُ رَبِّکَ لایؤمِنُونَ (۴) په سورة یوسف کې ایتُ لِلسَّائلین (۵) په سورة یوسف کې وَاَلقُوهُ فِی غَیَابَتِ الجُبِّ (۶) په سورة یوسف کې اَن یَجعَلوهُ فِی غَیَابَتِ الجُبِّ (۷) په سورة عنکبوت کې عَلَیهِ ایَتُ مِن رَبِّهِ (۸) په سورة مومن کې کَلِمَتُ رَبِّکَ (۹) په سورة سبا کې وَهُم فِی الغُرَفَاتِ امِنُون (۱۰) په سورة فاطر کې فَهُم عَلَی بَیّنَتٍ مِّنهُ (۱۱) په سورة فصلت کې ثَمَرَاتٍ مِن اَکمَامِهَا (۱۲) په سورة مرسلات کې جِمَالَتُ صُفرَ

## شپږم فصل

### (د حذف د الف بیان)

په دی فصل کې الف عام دی یعنی هغه همزه هم شامله ده چی په شکل د الف مرسوم وي د حذف الف ځایونه په طریقی د قواعدو ذکر کیږي

(اوله قاعده) چی کومی کلمی په حذف او اثبات کې د قراؤ اختلاف وي هغه کلمه همیشه محذوف مرسوم وي لکه قُل رَبِّ احکُم بالحَقِّ

(دوهمه قاعده) الف د ضمیر جمع متکلم چی کله د دی وروسته ضمیر متصل وي نو محذوف وي اَنجَینَکُم اتَینَهُ. عَلَمنَهُ. ارسَلنکَ. انشَئنهُنَّ. فَجَعَلنهُنَّ پس په مثل د اتَینَادَاوُدَ وغیره کې الف محذوف نه وي

(دریمه قاعده) الف د تثنی متوسطی همیشه محذوف وي لکه اِمرأتنِ. رَجُلنِ. وَمَا یُعَلِمنِ. یحکُمنِ او ابوَهُ وغیره

Maktaba Tul Ishaat.com

(ځلورمه قاعده ) الف د اسماء عجمیه کثیر الاستعمال په وجه محذوف وي لقمٰنَ. عمرٰن. ابرٰهیم. اسمٰعیلَ. اسحٰق وغیره

( پنځمه قاعده ) الف د اسماء عربیه کثیر الدوره په وجه محذوف وي لکه سُلیمٰن. صٰلِحْ. ملٰک خٰلدین وغیره کې په وجه د قلت استعمال لکه طَالوتَ. جَالوتَ. یَاجُوجَ. وَمَاجُوجَ وغیره کې الفات نه محذوف کېږي او ځلور ځایه د اسماء په حذف د الف کې اختلاف دئ یعنی هَارُوتَ وَمَارُوتَ. قارُونَ. وَهَامَانَ. لکن اکثره اثبات د الف قابل دي او اسرائیل الف اکثر مصاحف کې مرسوم دی

(شپږمه قاعده ) الف د جمع مذکر سالمی کثیر الوقوع په وجه هر ځای محذوف وي الفٰتنینَ. الصٰدقین. الصٰبرین وغیره لکن چی کله د الف نه وروسته همزه یا څه حرف ضعیف مشدد راسي نو الف مرسوم وي السآئلینَ. والقائمینَ. والضآلینَ لکن په دی دو سورتونو کې بعض په اثبات د الف کې اختلاف کړی دی

(اوومه قاعده ) د الف د جمع مؤنث سالم دوه محذوفه وي یو د الف فاعل دویم جمع لکه وَالنّٰزِعٰتِ. والعٰدیٰتِ وغیره (اتمه قاعده ) چی الف د دوو لامو په مینځ کې وي هر ځای محذوف وي لکه خِلٰلُ او ظِلٰلُ وغیره

(نهمه قاعده ) الف بای یا حرف ندا او ها تنبیه هر ځای محذوف وي لکه یٰابَتِ. یٰاُختَ هٰذا او هؤلآء وغیره

(لسمه قاعده ) چی په یو مه کلمه کې دوه یا دری الف جمع وي نو د ... هر ځای محذوف وي ددی وجی د اهل الرسم په نیز د تماثل په ... یعنی په یو کلمه کې څه شکل مکرر ... جائز ندي لکه ءانذرتهمْ. ءامنتم. ءالهتنا ... والذکرین وغیره

(یوولسمه قاعده ) الف د ... تبرکَ. مُبرکا. مبرکه. تبرکنا کې هر ځای محذوف وي اکثر ... د حروفو ... چی په ترتیب ... د محذوف الف کلمات ذکر کړی چی په

کلام پاکې ډیر راځي اګاهي په بیان د رسم خط کې چې کوم کلمات ذکر کیږي د هغه حکم د هغه تعریف او تنکیر څخه نه بدلیږي

(دولسمه قاعده) چې الف وروسته د تا یتمی او په لفظ کِتب کې هر ځای محذوف دی مګر لفظ کِتَابُ څلور ځای د الف سره مرسوم دي (۱) په سورة رعد کې لِکُلِّ اَجَلٍ کِتَابٍ (۲) په سورة حجر کې کِتَابٌ مَعلومٌ (۳) په سورة کهف کې من کتاب ربک (۴) په سورة النمل کې تِلکَ ایٰتُ القرْاٰنِ وکِتَابٍ مُبِینٍ

(دیارلسمه قاعده) چې الف وروسته د حا اَصحبُ النَّار اصحب الجنة په سحب کې هر ځای محذوف دي لکن قُل سُبحٰنَ رَبّی چې په سورة بنی اسرائل کې دي هغه مختلف فیه دي

(څوارلسمه قاعده) چې الف وروسته د را په تُرابًا کې هر ځای محذوف دي لکن درې ځایه اول په سورة رعد کې ءَاِذَا کُنَّا تُرابًا دوهم په سورة نمل کې ءاذا کُنَّا تُرابًا دریم په سورة نبا کې یلیْتَنِی کُنتُ تُرابًا کې حذف د الف ندی

(پنځلسمه قاعده) چې الف وروسته مَسجِدَ. مَسکِین. مسکنهم او سحر کې هر ځای محذوف وي لکن په سورة الذریات کې الا قالو ساحِرٌاو مجنون کې الف مرسوم دي

(شپاړسمه قاعده) الف وروسته د صاعقة صاعقةٌ او نصری کې هر ځای محذوف دي

(اوولسمه قاعده) الف وروسته د طا په سُلطنُ او شَیْطنِ کې هر ځای محذوف وي

(اتلسمه قاعده) الف وروسته د عین تَعلی او فتَعلی کې هر ځای محذوف دي

(نولسمه قاعده) الف وروسته لام د غُلمٌ مفرد او تثنی په هر حالت کې هر ځای محذوف دي دغه رنګه سَلمٌ بَلغٌ. السّلسِلَ او وَهُوَ الخَلقُ او خلئِفَ او ایْلفِ. وَاللّعِنُونَ. اللّعِنیْنَ. اللتَ. اللتی. اللئی. مُلقوا اللهَ. فمُلقِیه. مَلئِکة. ثلثة. ثلثَ. ثلثین. الئِکَ. الهُکُمْ. الِهَهُ او لفظ لکن. څرنګه چې راسی د دی ټولو الف هر ځای محذوف وي او په

Maktaba Tul Ishaat.com

الئنَ کې هم الف هر ځای محذوف وي لکن په سورة جن کې فَمَن يَستَمِعالاٰنَ الف مرسوم دی دارنګه اَلئِکةِ چی په سورة شعراء او په سورة صاد کې دي په دی دوو ځایو وروسته د لام الف محذوف دی مګر په سورة ق کې اَصحٰبُ الاِیکةِ وَقومُ تُبَعٍ الف مرسوم دی

(شلمه قاعده) الف وروسته د میم الرَحمٰنَ او سَموتٍ هر ځای محذوف وي

(یویشتمه قاعده) الف وروسته دواو سَموتٍ هرځای محذوف وي لکن په سورة فصلت کې سَبعَ سَموتٍ الف مرسوم دی

(دوویشتمه قاعده) الف وروسته د ها په اَنهرَ کې دی هر ځای محذوف دي

(درویشتمه قاعده) فائده په لفظ د اَیُّهَا کې وروسته ها هر ځای الف مرسوم وي لکن دری ځای اول په سورة نور کې اَیُّهَ المُؤمِنُونَ دوهم په سورة زخرف کې یَاَیُّهَ السَّاحِرُ دریم په سورة الرحمن کې اَیُّهَ الثَّقلٰنَ الف محذوف دی

(څلورویشتمه قاعده) الف وروسته د همزی په لفظ د قران کې هر ځای مرسوم دی لکن دوه ځای مختلف فیه دی اول په سورة یوسف کې اِنَّا اَنزَلنَاهُ قُرانًا عَرَبِیًا دوهم په سورة زخرف کې اِنَّا جَعَلنَاهُ قُرانًا عَرَبِیًا

(پنځ ویشتمه قاعده) الف وروسته د یا لفظ قیمَه او اٰیٰتِنا محذوف وي لکن په سورة یونس کې دوه ځای اول ایٰتَنابیِّنٰتٍ دوهم فِیۡ ایٰتِنا محذوف ندی

## «اووم فصل»

## (د حذف د واو بیان)

واو که په اسم کې وي یا فعل کې وي کله د تماثل په رسم په وجه محذوف وي او کله په وجه د اجتماعی ساکنین په حذف د واو کې خالص په ضمه باندی اکتفا کوي چی واو د اجتماع د ساکنین په وجه محذوف وي هغه صرف په څلورو کلیمو کې راغلی دی اول وَیَدعُوا الانسَانَ په سورة بنی اسرائیل کې دوهم وَیَمحُ اللهُ په سورة شورای

کې دريم وَيَدعُوا الدَّاعِی په سورة قمر کې څلورم سَنَدع الزَّبَانِيةُ په سورة علق کې او چې واو د تماثل په رسم په وجه محذوف وي د هغه درې سورتونه دي اول دا چې په کلمه کې دوه واو اصلي او بنايي وي لکه دَاوُدَ دوهم دا چې يو واو اصلي وي او يو په صورت د همزې لکه تُؤِی۔ او تؤيه۔ او مَسئُولا وغيره دريم دا چې يو واو اصليه وي او دوه واو زائد جمع وي لکه وَاِن تَلوا ولاتَلوُنَ لماتَستوُنَ۔ الغَاوُنَ۔ په دې ټولو صورتو کې يو واو مرسوم وي.

«اتم فصل»

(دحذف د يا بيان)

يا که په لام کلمه کې وي يا متکلم وي اکثره فواصل کې او کله کله غيرې فواصل کې چې ماقبل په کسرې باندې اکتفا وکې حذف کېږي هغه ټول قرآن د سورتونو د ترتيب مطابق بيانيږي. په سورة بقره کې فَرهَبُونِ ی فَتقُونِ یِ وَلَاتَکفُرُونِ ی دَعوَةَ الدَّاعِ اِذَادَعَانِ یِ وَاتقُونِ ی يَاُولِی الاَلبَابِ ی په سورة ال عمران کې وَمَن اِتبعَنِ ی وَاَطِيعُونِ ی په سورة نساء کې يُؤتِ ی الله المُؤمِنِينَ په سورة مائده کې وَاخشَونِ ی اليَومَ او وَاخشَونِ ی وَلَاتَشتَرُوا په سورة انعام کې يَقضِ ی الحَقَ وَتَرهَبُونِ ی په سورة اعراف کې ثُمَ کِيدُونِ ی فَلَا تَنظِرُونَ په سورة يونس کې وَلَا تَنظِرُونِ ی وَنَنجِ ی المُؤمِنِينَ۔ فَلَا تَسئَلنَ ی۔ ثُمَ لَاتُنظِرُونِ ی۔ وَتُخسِرُونِ ی۔ وَيَومَ يَاتِ ی۔ لَاتُکَلِمُ په سورة يوسف کې لَولَا اَن تُفَندُونَ ی۔ فَارسِلُونِ ی۔ وَلَاتَقرَبُونِ ی۔ وَحَتّٰی تُؤتُونِ ی۔ په سورة رعد کې الکَبِيرُالمُتَعَالِ ی۔ وَالله مَتَابِ ی۔ فَکَيفَ کَانَ عِقَابِ ی۔ په سورة ابراهيم کې وَخَافِ وَعِيدِ ی۔ بِمَا اَشرَکتُمُونِ ی۔ وَتَقبَلُ دُعَاءِ ی۔ په سورة حجر کې فَلَا تَفضَحُونِ ی۔ وَلَاتُخزُونِ ی۔ په سورة نحل کې فَاتقُونِ ی۔ په سورة بنی اسرائل کې اٰخَرتَنِی۔ فَرهَبُونِ ی۔ فَهُوَالمُهتَدِ ی۔ په سورة کهف کې فَهُوَالمُهتَدِ ی۔ وَاِن تَرَنِ ی۔ وَاَن يُوتِينِ ی۔ علٰی

Maktaba Tul Ishaat.com

انْ تُعلِمَنِ ی. مَاكُنَّا نَبْغِ ی. په سورة طه كې الَّا تَتَّبِعَنِ ی. په سورة انبيا كې فَاعْبُدُوْنِ ی.
فَلَا تَسْتَعْجِلُوْنِ ی. وَاَنَا رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْنِ ی په سورة حج كې وَالْبَادِ ی. فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ی
وَاِنَّ اللهَ لَهَادِ ی په سورة مؤمنون كې بِمَا كَذَّبُوْنِ ی. فَاتَّقُوْنِ ی. اَنْ يَّحْضُرُوْنِ ی. رَبِّ
ارْجِعُوْنِ ی. وَلَا تُكَلِّمُوْنِ ی او په سورة شعراء كې اَنْ يَّقْتُلُوْنِ ی. فَهُوَ يَهْدِيْنِ ی.
وَيَسْقِيْنِ ی. ثُمَّ يُحْيِيْنِ ی. او كلمة وَاَطِيْعُوْنِ ی اته ځايو كې او اِنَّ قَوْمِيْ كَذَّبُوْنِ ی. په
سورة نمل كې عَلٰى وَادِ ی. النَّمْلِ. اَتُمِدُّوْنَنِ ی. فَمَا اٰتَانِ ی. اللهُ حَتّٰى تَشْهَدُوْنِ ی. په
سورة قصص كې اَنْ يُّقْتُلُوْنِ ی. اَنْ يُّكَذِّبُوْنِ ی. په سورة عنكبوت كې فَاعْبُدُوْنِ ی. په
سورة روم كې بِهَدِ ی الْعُمْيِ په سورة سبا كې كَالْجَوَابِ ی. وَنَكِيْرِ ی. په سورة فاطر
كې وَنَكِيْرِ ی. په سورة يٰسن كې اِنْ يُّرِدْنِ ی. وَلَا يُنْقِذُوْنَ ی. فَاسْمَعُوْنِ ی. په سورة
صافات كې سَتُرْدِيْنِ ی. اِلٰى رَبِّكَ سَيَهْدِيْنَ ی. صَالِ ی الْجَحِيْمِ په سورة ص كې
عَذَابِ ی. فَحَقَّ عِقَابِ ی. په سورة زمر كې يَاعِبَادِ ی. فَاتَّقُوْنِ ی. فَبَشِّرْ عِبَادِ ی. په
سورة مومن كې عِقَابِ ی يَوْمُ التَّلَاقِ ی. يَوْمُ التَّنَادِ ی. يٰقَوْمِ اتَّبِعُوْنِ ی. په سورة شورى
كې الْجَوَارِ ی. په سورة زخرف كې سَيَهْدِيَنِ ی. وَاتَّبِعُوْنِ ی. وَاَطِيْعُوْنِ ی. په سورة
دخان كې اَنْ تَرْجُمُوْنِ ی. الْمُنَادِ ی. دوه ځائ وَعِيْدِ ی. په سورة ذاريات كې لِيَعْبُدُوْنِ ی
. اَنْ يَّطْعِمُوْنِ ی. فَلَا تَسْتَعْجِلُوْنِ ی. په سورة قمر كې فَمَا تُغْنِ النُّذُرِ. يَدْعُ الدَّاعِ ی.
مُهْطِعِيْنَ اِلَى الدَّاعِ ی. او شپږ ځائ نُذُرِ ی. په سورة رحمن كې وَلَهُ الْجَوَارِ ی. په سورة
ملك كې نَذِيْرِ ی. نَكِيْرِ ی. په سورة نوح كې وَاَطِيْعُوْنِ ی. په سورة مرسلات كې
فَكِيْدُوْنِ ی. په سورة كورت كې الْجَوَارِ ی. الْكُنَّسِ. په سورة فجر كې اِذَا يَسْرِ ی.
وَبِالْوَادِ ی. اَكْرَمَنِ ی. اَهَانَنِ ی. په سورة كافرون كې وَلِيَ دِيْنِ ی. د دې ټولو كلماتو
مذكوره يائې محذوفه كې شمار كړې دي او په سورة طه كې بَالْوَادِ ی الْمُقَدَّسِ طُوى
او په سورة شعراء كې مَعِيَ رَبِّيْ سَيَهْدِيْنِ ی. او په سورة قصص كې الْوَادِ ی الْاَيْمَنِ ی.
او په سورة ق كې وَاسْتَمِعْ يَوْمَ يُنَادِ ی او په سورة نازعات كې بِالْوَادِ ی الْمُقَدَّسِ طُوًى

(قاعده) یا متکلم هر منادیٰ څخه محذوف وي لکه یَعِبَاد او یَقَوْمِ وغیره لکن په زمر او عنکبوت کې یَعِبَادِیَ الَّذِیْنَ کې یاء متکلم هر منادی محزوفه نه وي او یَعِبَادِ لَاخَوْفُ په سورة زخرف کې مختلف فیه وي

(قاعده) چې یاء منونه په سبب د کسری ماقبل ساکن وي هغه هر ځائ محذوف وي لکه غَیْرَبَاغٍ وَّلَاعَادٍ ـ مِنْ وَّالٍ غَوَاشٍ وغیره ـ قاعده په کومه کلمه کې دوې یاء وي د دی څخه په وجه د تماثل یوه یاء محذوف وي لکه یُحْیِ او یَسْتَحْیِ وغیره ـ فائده په سورة بقره کې څومره قدر ابراهیم دی وروسته د هاء ددی تولو یاء غیر مرسوم وي دارنګه اِلَفِهِمْ کې وروسته د همزی یاء محذوف وي څرنګه ددی لام وروسته الف محذوف وي

## نهم فصل

### (دالف زیادت او داثبات بیان)

چې کوم الف زائددا لفظ مرسوم وي دیته اثبات الف وایي.(قاعده)که چیری د واو جمع څخه وروسته ضمیر نوي نو ددی وروسته الف هأی مرسوم وي لکه قَالُوا ـ او وَاطْمَئَنُّوابِهَا وغیره لکن جَآءُ ـ او وَبَآءُ کې د واو جمع وروسته الف محذوف وي. دارنګه په سورة البقرة کې فَاِنْ فَآءُ واو په سورة فرقان کې وَعَتَو عَتُوا ـ کَبِیرًا او په سورة سبا کې وَالَّذِینَ سَعَو او په سورة حشر کې تَبَوَّءُ ـ الدَّارُ ـ کې د واو الف محذوف وي.

(قاعده) چې همزه په شکل د واو مرسوم وي ددی وروسته دا الف زائد مرسوم وي فِیکُم ـ شُرَکٰؤُا په سورة انعام کې او اَم لَهُم شُرَکٰؤُا په سورة شوری کې دارنګه فَسَوفَ یَاتِیهِم اَنبَاؤُ په سورة انعام او شوری کې دغه رنګه عُلَمٰؤُا بَنِی اِسرَائِلَ په سورة شعرا کې

Maktaba Tul Ishaat.com

او مِن عِبَادِهِ العُلماؤُا په سورة فاطركې الضّعَفاؤُا او فِی اموَالِ نامَانشَاؤُا او په سورة غافركې وَمَادُعؤُالكافِرینَ او په سورة روم کی شُفعٰؤُا او په سورة صافات کې البَلٰؤُالمُبِینَ او په سورة دخان کې بَلٰؤٌامُبِینَ. او په سورة ممتحنه کې اِنّابُرَاؤُامِنکُم هم وروسته واو الف مرسوم وي . دارنګه لفظ جَزَاؤُا دا او ه ۷ ځای راغلی ده
(۱) جَزَاؤُالسّیِئَةِ په سورة شوری کې (۲) اِنمَا جَزَاءُالذِینَ په سورة مائده کې (۳) وَذٰلِکَ جَزَاؤُالظٰلِمِینَ په سورة مائده کې (۴) وَذٰالِکَ جَزَاؤُالظٰلِمِینَ په سورة حشر کې
(۵) جَزَاؤُالمُحسِنِینَ په سورة زمرکې (۶) جَزَاؤُالحُسنی په سورة کهف کې (۷) وَذٰالِکَ جَزَاؤُامَن تَزَکی - لکن په اخر کې د (۳ دری) کلمات کې په منځ دالف په بعض مصاحب کې واو لیکلی وي. او په بعض کې نه وي لیکلی. (قاعده) صیغه واحد کې وروسته واو اصلی هرځای الف مرسوم وي لکه یَدعُوالِیَبلوَا - وغیره لکن په سورة نساء کې عَسَی اللّٰہُ اِن یَعفُوَعَنهُم بغیر الف مرسوم وي. (قاعده) همزه وصلی په شکل د الف هرځای ثابت اومرسوم وي لکن په پنځوځایوکې محذوف غیر مرسوم وي (۱) لکه په لفظ دبسم الله کې (۲) چی کله همزه وصلی په لام تاکید او لام جاره داخل وي لِلذِینَ- لِلِہ- وَللدارِ- وغیره (۳) همزه وصلی سَئَلَ- یَسئَلُ- کې دامر وروسته واو یا فا واقع وي لکه وَاسئَلُوا فسئَلوا وغیره (۴) همزه وصلی مکسوره وروسته همزه استفهام لکه اَتّخَذتُم- وَافترٰی- اِستَکبَرتُم- وغیره او وروسته همزه استفهام همزه وصلی مفتوح وي اٰلئٰنَ- اٰلذٰکَرینَ- اٰللّٰہ کې دحذف او اثبات اختلاف دی علامه دانی په نزد اثبات دی (۵) مخکې همزه اصلی ساکن لکه کله همزه وصلی واو یا فا وروسته واقع وي نو محذوف رسم وي لکه وَاٰتُوالبُیُوتَ او فَاٰتُوحَرثَکُم (قاعده) منصوب منون هرځای په شکل دالف مرسوم وي لکه عَلِیمًا. حَکِیمًا. وغیره لکن چی همزه متطرفه منصوب منون واقع وي نو د تماثل فی الرسم په وجه منصوب منون الف محذوف وي لکه مُتّکاً. مَلجاً. غُثٰاءً. جُفٰاءً. وغیره.

مګرپه شَيئًا کې څنګه چې همزه محذوفه ده ددی وجی څخه منصوب منون په شکل دالف وي .دارنګه تايي تانيث کې منصوب منون په شکل دالف نه وي .لکه رَحمَةً وغيره.(فايده ) که څه هم وقف تابع د رسم خط دی لکن موافقت دباب په وجه مَلجاً .جُفَاً باندی هم مثل عَلِيمًا وغيره کې وقف دالف سره مرسوم وي.

(فايده )په سورة کهف کې لکِنَّا هُوَاللهُ رَبِّی اوپه سورة احزاب کې الظنُونَا .الرَّسولَا. اَسَّبِيلَا.اوپه سورة دهرکې سَلسِلَا او اول قوَارِيرَ.په دی تولو کې بالاتفاق الف مرسوم وي.په دوهم قوَارِيرکې اختلاف دی لؤلؤًا کې وروسته واومتطرفه صرف په سورة حج کې په اتفاق سره الف مرسوم وي اوپه سورة فاطراو دهر کې اختلاف دی ثَمُودَا اوپه سورة هود او سورة فرقان اوپه سورة عنکبوت او په سورة نجم کې وروسته د دال-الف مرسوم دی: مَائَةَ مِاتَينِ کې وروسته ميم په اتفاق سره الف مرسرم دی لکن فِئَةً او فِئَتَينِ بغير الف مرسوم دی وَلَاتَقُولَنَّ لِشَيائٍ کې وروسته دشين الف مرسوم دی دارنګه لَااِلَى اللهِ او لَااِلَى الجَحِيمَ او لَااَدبَحَنَهُ او لَااَنتُم اولَااَوضَعُوا کې وروسته دلام الف اوانتَبُوءَا کې وروسته دهمزی دارنګه اَلرِّبٰوا کې هم وروسته دواو الف زائدوي.

## لسم فصل

### (داثبات دیابیان)

په کومو کلماتو کې خلاف قاعده دیا زائده ليکلی وي دی ته اثبات يا وايي لکه په سورة ال عمران کې اَفَائِن مَاتَ اوپه سورة انعام کې مِن نَبَأی اِلمُرسَلِينَ اوپه سورة يونس کې مِن تِلقَائِ نَفسِی اوپه سورة نحل کې اِيتَائِ ذِی القُربٰی اوپه سورة طه کې اٰنَآئِ اللَيلِ اوپه سورة انبيا کې اَفَائِن مِتَّ اوپه سورة شعرا کې مِن وَرَآئِ حِجَابٍ اوپه سورة روم کې بِلِقَآئِ رَبِّهِم اولِقَائِ الاٰخِرة اوپه سورة ذاريات کې بِايدٍ وَاِنَّا اوپه سورة

Maktaba Tul Ishaat.com

نون کې بِاَیِّکُمُ المَفتُونَ په دې تولو کې وروسته الف دیازائد مرسوم وي اومَلَائِه وَمَلَائِهِم کې وروسته همزه دیامرسوم وي. دارنګه الّٰیٔ تَظٰهَرُونَ او وَلٰیٔ یَئِسنَ او وَلٰئِی لم یَحِضْنَ- الٰاالٰیٔ کې وروسته همزه دیا مرسوم وي.

(خبرتیا) مِن نَبَاءِمُوسٰی اوایتَاءِالزکٰوة په سورة قصص کې دی اومِن وَرَآءِحِجَابِ په سورة احذاف کې دی په حذف دیامرسوم دی.

(فائده) که څه هم دتمثل فی الرسم په وجه په ځای د دوو یاوو یوه لیکل کېږی لکن ددی قاعدی څخه څو کلمات مستثنی دی ۱عَلِینَ ۲هَیِّئ ۳یُهَیِّئ ۴وَمَکرَالسَّیِّئِ او ۵ اَفَحَینَ همدارنګه یُحیِیکُم یُحیِیهَا. یُحیِینَ چی دضمیرسره واقع وي. همدارنګه لفظ بِسَیِّئَةِ اوالسَیِّئَةِ اواخرسَیِّئًامعرفه وي یانکره په دې تولو کې دوې یا مرسوم وي.

## یولسم فصل

### (دابدال د حرف بیان)

دابدال دحرف دوه صورته دی اول ده چی په ځای دالف واو مرسوم وي دویم داچی په ځای دالف یا مرسوم وي. دا ابدال په اعتبار دتلفظ وي ددی رسم په اعتبار د اصل وي ددی وجی څخه دارسم غیری قیاسی دی که څه هم په لحاظ دتغیرتام اصل دا دی ابدال په اعتبار دلفظ زی نوپه اعتباردرسم هم وي مګر دارسم قیاسی دی لکه عَفَا. خَلَا. او وَاِنّ صَلَاتِی وغیره ددی وجی څخه دارسم داحتیاج بیان نه دی. دابدال غیری قیاسی دوې قاعدی دی (۱) چی الف واوسره بدل سوي وي اود واو په شکل لیکل کېږی ددی وجی څخه څلورکلمات یعنی صَلٰوة- زَکٰوة- حَیٰوة- رِبَوا چی معرف بل لام وي یا غیرمعرف وي هرځای د واو په شکل لیکل کېږی مګر صَلٰوةِ- اوحَیٰوةِ- چی ضمیرطرفته مضاف وي نو الف مرسوم وي لکه اِنّ صَلَاتِی- صَلَاتِکَ اوحَیَاتِی

وغیره چی دادوه درسم ظاهر طرفته مضاف وي نوپه شکل دواو مرسوم وي.لکه
صَلوٰةِالعِشَاءِ وغیره کښ

(فائده) ددی څلورو کلماتو علاوه څلور کلمات نورهم دی چی په هغه کښ په ځای دالف
واو مرسوم دی لکه بِالغَدٰوةِ او په سورة نور کښ مِشکوٰةٍ او په سورة مؤمن کښ اَلنَّجٰوةِ
اوپه سورة نجم کښ مَنٰوة.(۲) چی الف په یا سره بدل سوي وي اود یا په شکل لیکل
کېږی که په اسم کښ وي که په فعل کښ وي او اسماء معرف وي یا غیر معرف وي.
لکه یُتلٰی.یُدعٰی. اتکُم اَرٰاکُم مَجرٰهَا. او مُوسٰی.عِیسٰی.بُشرٰی. اَلحُسنٰی.اَلعُسرٰی
اَزکٰی. اَدنٰی. اَربٰی وغیره مگر ددی قاعدی څخه ۵ کلمات مستثنی دی(۱) وَمَن
عَصَانِی په سورة ابراهیم کښ(۲) اَنَّهُ مَن تَوَلَّاهُ په سورة حج کښ(۳) اَلاَقصَا مَعرُف په
سورة اسرئیل کښ اوغیری معرف دوه ځایه صرف په صورة قصص کښ وي(۴)
سِیمَاهُم په سورة فتح کښ(۵) طَغَا المَاءُ په سورة حاقه کښ ددی ټولو کلماتو الف په
سورة دالف مرسوم دی

اګاهی:چی الف یا یی وروسته د یا واقع وي نو دالف په صورت الف مرسوم وي لکه
دُنیَا.اَلعُلیَا.اَلرِّءیَا.اَلحَوَایَا.فَاحیَابِهِ.اَحیَاکُم وغیره

(فائده) کِلتَا الجَنَّتَینِ او رُسُلَنَا تَترَا په اتفاق دالف سره مرسوم دی

(فائده) په ټولو مصاحفو کښ اِلٰی.حَتّٰی.عَلٰی یا سره مرسوم دی.همدارنګه
یوَیلَتٰی.یحَسرَتٰی.یَاسَفٰی.اَنّٰی په معنی د کَیفَ او مَتٰی.عَسٰی.بَلٰی هرځای په یا سره
مرسوم دی.او لَدَا صرف لَدَی اَلحَنَاجِرِ په سورة غافر کښ مختلف فیه دی او لدا! البَابِ
چی په سورة یوسف کښ دی په الف سره مرسوم دی

Maktaba Tul Ishaat.com

(فائده) چې واو دیا څخه رسمابدل وي دالف سره ویل کېږی اود یا په شکل لیکل کېږی د دی وجی څخه یولس کلمات دی لکه بَاسُنَاضُحی په سورة اعراف کې او آن یُحشَرُالنَاسُ ضُحًی په سورة طه کې او مَازکی په سورة نورکې او ضُحَهَا. دَحٰهَا په سورة نازعات کې او ضُحٰهَا. تَلٰهَا. طَحٰهَا په سورة شمس کې او وَالضُحی وَالیلِ اِذَاسَجی او القُوای دا ټول د یا په شکل سره لیکل کېږی هغه چې په الف سره واو الف سره بدل سوي وي هغه په الف سره مرسوم وي هغه که اسم وي که فعل وي. لکه اَلصَفَا وغیره

«دولسم فصل»

(د لام بیان)

(قاعده) اَلذِیْ. اَلذِیْنَ. اَلذَانِ. اَلیْلِ. اَلتِیْ. اَلئِیْ کې کثیرالدورپه وجه تخفیفا هرځای په ځای د دوو لامو یو لام لیکل کېږی. اَلذِیْنَ اَضَلنَا. وَالیْلِ اِذَا یَغشی. وَالتِیْ یَاتِیْنَ. اَلتِیْ اَحْصَنَت وَالتِی بَئِسْنَ ددی څخه علاوه که په یوه کلمه کې دوه لامه وي نو دواړه لیکل کېږی لکه اَللعِنُوْنَ. اَللطِیفُ. اَللهُمَ وغیره.

اول باب

(د سورة الفاتحی څخه ترسورة الاعراف پوری)

صِرَاطَ. اَلصِرَاطَ په ټول قرآن کې په صاد سره لیکل کېږی د صِرَاطَ لفظ په قرآن کې ۳۵ ځایه راغلی دی اصل لفظ سِرَاط په سین سره دی طا د مجاورت په وجه سین په صاد سره بدل سونو داهل زبان لپاره په مثل د اصل لغت سوقنبل چې په سین سره وایي نو د قرائت د رسم په خلاف نه دی ولی سین اصل دی مٰلِکِ په حذف الف سره لیکل کېږی په ټول قرآن کې لفظ د مَالِکِ په الف صرف دری ځایه دی سورة الفاتحه، سورة

العمران او په سورة زخرف کې ویل کېږی په اول کې اختلاف د قرائت کې دی پاته دوه ځایه باالاتفاق الف دی باقی ټوله ځای د هغه قرائت بغیر د الف دی. فَادّٰرَءتُم په سورة بقره( ع۹ ) د اول الف وروسته فا یو ځای ده او همزه وصلی په سورة کې ددی دواړه الفونه حذف ده.مَسٰكِينَ په حذف د الف لفظ د مَسٰكِينَ په قرآن کې ۱۲ ځایه راغلی دی په ټولو کې حذف د الف دی اول البته په سورة المائده کې دویم مسکېن کې

نصیر رحمة الله لپاره خُلف دی او د نافع څخه حذف دی يُخٰدِعُوْنَ په حذف د الف په ټول قرآن کې دي وقٰتِلُوْهُم.ولاتُقٰتِلُوْهُم.يُقٰتِلُوكُمْ.قٰتلوكُمْ سورة بقره( ع۲۴ ) دا څلور کلمات په حذف د الف سره دي وَيَبْصُطُ (بقره ع۳۲ ) بِمُصَيطِرٍ (طور ع۲ ) په صاد سره لیکل کېږي همدا رنګه بَصطَةً (اعراف ع ۹ ) هم په صاد سره دي يَبصُطُ د دي څخه علاوه په ټول قرآن کې هر ځای د اصل مطابق په سین سره دي اِهْبِطُوْا مِصرًا (بقره ع ۷ ) په ټولو مصاحفو کې په الف سره دي مِيْكٰلَ په حذف د الف سره دي (بقره ع۱۲ ) او دا د شمول قرائت لپاره دي وعٰدنَا په حذف د الف سره (بقره ع ۲ ) .(اعراف ع ۱۷ ) .(طه ع۴ ) راغلي دي خَطِئَتُهُ د طا او ها په منځ کې دوه غانونه دي اول د یا دویم د تا دی.

او همزه ساکنه په بنا باندی او الف د شمول په وجه باندی محذوف دي (بقره ع ۹ ) خَطٰيٰكُم (بقره ع ۲ ) خَطٰينا.خَطٰيٰهُم کې الفونه محذوف شکل لري الصّٰعِقَةُ.الرِّيٰحِ (بقره ع۲ ،۴، ۲) کې حذف د الف دي او دا شمول قرائت لپاره دي.دقرآء عشره په الرِّيٰحِ او الرِّيٰحِ کې ۱۸ اتلس ځایه اختلاف ـ ی. په ایضاح المقاصد کې مثالونه ذکر شوي دي.

تُفٰدُوهُم (بقره ع۱۰ ) په حذف د الف دی او دا د شمول قرائت لپاره واسطه ده تَظٰهَرُون. اُسٰرىٰ (بقره ع ۹ ) اليَتٰمٰي دری سره په حذف د الف دِفٰعُ الله (بقره ع۳۳ ) .(حج۲ ) په حذف د الف سره دي او د شمول قرآت دواسطی لپاره دي. فَرِهٰنٌ (بقره ۳۹ ) مُضٰعَفَةً (آل عمران ۱۴ ) عٰهَدُوْا (بقره ع۲۲ ،۱۲ ) تَشٰبَهَ (بقره ع ۸ ) دا ټول کلمات په حذف د الف سره دي په اول درو ۳ کې حذف د الف د شمول قرائت لپاره دي او په اخریو کې

Maktaba Tul Ishaat.com

اختصار لپاره دي. مګر تَشَابَهَ (آل عمران ع ۸) دا په اثبات د الف دي. يُضْعَفُ ځرنګه کېفيت باندی راځي يعنی فَيُضَاعِفَهٗ لَهٗ (البقره) وَاللهُ يُضَاعِفُ لِمَن يَشَآء (البقره) يُضَاعَفُ لَهُمُ الْعَذَابَ (هود) فَيُضَاعِفَهٗ لَهٗ او يُضَاعِفُ لَهُم (الحديد) کې هر ځای خذف د الف دی او بعضی اختلاف کړی دی کِتَبِهٖ (بقره ع ۲۰) بِالخُلف دي. په کتاب کې څلور ځايه اثبات د الف دی (د رعد ع ۲- حجر ع ۱- کهف ع ۴) دويم په سورة نمل ع ۱) دي او پاته په ټولو کې حذف الف دی. اِبْرَاهِيْمُ په حذف الف سره دي. په سورة البقره کې د اِبْرَاهمُ لفظ «۱۵» پنځلس ځايه راغلي دي. د دی رسم مصحف کوفی مصحف بصري او مصحف شامي کې بغير د الف دي يعنی اِبرَهمَ د مصحف مکې- مدني او امام لپاره باالياء دي يعنی اِبرَاهِيمَ په سورة البقره کې پاته قرآن کې په ټولو مصحفو کې هغه رسم په باالياء سره دي د الفظ په قرآن کې (۷۹) نه اويا ځله راغلی دي مګر امام شاطبی (رح) په دی کې (۳۳) ځايه اختلاف د قرائت بولي. اَوصٰی په امام شامي او مدني مصاحف کې له واو ښخه مخکې الف دی او په پاته مصاحف کې وَوَصّٰی دي په دوو واوو سره وَقَالُوا اتَّخَذَ اللهُ (بقره ع ۱۴) واو حذف دی په مصحف شامي کې همدارنګه کلمات مصحف امام مدني کې اختلاف دي يعنی په مصحف امام کې دا کلمات دا ډول دي سَارِعُوْا (العمران ع ۱۵) په ځای د وَسَارِعُو د واو ښخه ۸ يَقُولُ الَّذِينَ (مائده ع ۸) وَيَقُولُ واو سره- مَن يَرتَدِد (مائده ع ۸) په ځایَ مَن يَرتَدَّ د يو دال سره اَلَّذِينَ اتَّخَذُوْا (توبه ع ۱۳) په ځای د وَالَّذِينَ واو سره دي. خَيرًا مِنهُمَا (کهف ع ۵) په ځای د خَيرًا مِنهَا د واو د صيغه ښخه فَتَوَکَّل (شعرا ع ۱۱) په ځای د وَتَوَکَّل د واو سره دِينَکُم وَاَن (غافر ع ۳) په ځای دِينَکُم اَوْاَن همزی ښخه اَلاَنْفُسِ بِمَاکَسَبَت (شوری ع ۴) په ځای فَبِمَاکَسَبَت فا ښخه- تَشتَهِيهِ الاَنفُسِ (زخرف ع ۷) په ځای د تَشتَهِي الاَنفُس- فَاِنَّ اللهَ الغَنِیُّ (حديد ع ۳) په ځای د فَاِنَّ اللهَ هُوَالغَنِیُّ- فَلَايَخَافُ (شمس) په ځای وَلَايَخَافُ وَيُقتِلُونَ الَّذِينَ (ال عمران ع ۳) با الخلف دي دا

حذف د شمول د قرائت د واسطی لپاره دي طٰئِرًا (ال عمران ع۵ مائده ع ۱۵« په دی کې
حذف د الف دي او دا حذف هم د شمول قرائت د واسطی لپاره دي وَقٰتلُوا . ثُلٰثَ رُبٰعَ .
کِتٰبَ اللهِ ع۴ . ضِعٰفًا ع۸ . عقّدَت ع۵ ) د دی شپږ کلمات په حذف د الف سره دي په
اخر د ال عمران کې قاتَلو وَ قُتِلوکي امام همزه او امام کسایی لپاره تقدیم او تاخیر
دي یعنی قُتِلواوَ قاتَلو او دا دواړه قرآتونه یو ځای د هغه وخت وي چی الف په دی
دواړو فعلونو کې محذوف وي لکه ثُلٰثَ وَرُبٰعَ . کِتٰبَ اللهِ عَلَيْكُمْ او ضِعٰفًا کې حذف د
الف د اختصار لپاره دي. او عقّدَت کې حذف الف د شمول قرائت د واسطی لپاره دی
مُراغمًا ع۱۴ ) فلقٰتلوکم ع۱۲ ) لمَستُم نساء ع ۷ )مائده ع۲ )اَلسّلمُ مائده ع ۳ )انعام
ع ۱۵ )رِسٰلتِه مائده ع۱۰ )انعام ع ۱۵ )دا پنځه کلمات هم حذف د الف دی د دی
کلماتو څخه مُراغِمًا او اَلسّلمُ کې د حذف اختصار لپاره دی او قٰتِلو لمَستُم او رِسٰلتِهِ
کې د شمول قرائت لپاره دي. یاد ساتي چه رِسٰلتِهٖ کې د لام نه وروسته وَلَا الف حذف
وي بلِغَ ( مائده ع ۱۳) قِيٰمًا (نساء ع ۱۸ ) (مائده ع ۱۳ ) اَلاَولینِ (مائده ع ۱۴ ) اَکٰلُونَ
(مائده ع۲ ) په حذف د الف دي بلِغْ او اَکٰلونَ کې حذف د الف د اختصار لپاره دي او
قیٰمًا او الا اولینِ کې د شمول قرائت لپاره دي اَلسّلمُ لستَ (نساءع ۱۳ ) په حذف د الف
سره دي مَسٰكِين (مائده ع ۱۳ ) په حذف د الف کې اختلاف دي سحِرٌ (مائده ع۱۵ )
(یونس هود ع ۱۸ ) نصیر په اختلاف روایت کړی دي. پدی دروکې اختلاف د قرائت
دي وَسَارِعُوا (ال عمران ع ۱۵ ) په اثبات د واو د مکې لپاره دي او عراقي مصاحف
رسم دي او مدني ، شامي په حذف د واو سره سارِعُوا دي بِالبَينت وَ بِالزُبُرِ دي(ال
عمران ع ۱۹ ) اثبات د باء شامي مصحف رسم دي او پاته مصاحف کې بالبَيّنَتِ ولزُبُرِ
دي قلیْلًا مِنهُم د شامي مصحف رسم دی پا ته کې قلیْلُ مِنهُم دي. مَن يَر تَدِدْ ( مائده ع
۸ ) مدني ، شامي او د امام رسم دي او عراقي ماصاحف کې مَن يَرتَدّ دي د یو دال
سره وَيَقُولُ الذينَ په عراقي مصاحف کې دي او پا ته مصاحف کې د واو حذف څخه

Maktaba Tul Ishaat.com

يَقُولُ الذينَ- بِالغَدوَةِ (انعام ع ٦) -(كهف ع ۴) په ټولو مصاحفو كې د دال وروسته واو مرسوم دى اصل پدى كلمه كى دوه قراته دي بِاالغَدَاةِ چى بغير د شامي د ټولو قراوو قرائت دي او شامي بِالغُدوَةِ ويلي دي. فَرَقُوا (انعام ع ۲۰ ،روم ع ۴) په حذف د الف سره دي او د حذف د الف شمول قرائت لپاره دي.- وَلَاطٰئِيرً (انعام ع ۴) اَكَبِرَ ع ۱۵) ذُرِيتِيهِمِ ع ۱۰) درى سره الفاظ په حذف د الف دي او په دى درو كلماتو كې حذف الف د اختصار لپاره دي.- فلِقُ الحَبَ په لفظ فَالِقُ كې اثبات د الف قياسي دي او حذف د الف خلاف قياس دي په ټول قرائت كې په الف سره ويل كېږي. مګرپه رسم كې فَالِقُ الحَبَ كې اختلاف دى او فَلِقُ الاصبَاح كې په اجماع د اهلِ رسم حذف د الف دي او وَجعَلُ اليَلِ په الف كې اختلاف دي جَعَلَ اليلَ كې كوفين په صيغه ماضي معروف ويلي دي او غير كوفين په صيغه اسم فاعل او په د فع دلام ويلي دي لِئِن اَنجَيتَنَا (انعام ع ۸) كوفي مصحف كې تا حذف څخه اَنجَنا دي جيم او اخري الف په مابين دوه غاښه دي اول په ياء سره بدل شوي دي الف او دويم په نون سره دى پا ته مصاحف كې درى غاښه دي چى يا ،تل او نون دي وَلَدَارُلَاخِرَةِ لره بغير د شامى مصحف كې نور ټولو مصاحفو كې وَلَلدَارُالاخِرَةِ يعنى د دوو لامو سره روايت كړيدى چى په شامي مصحف كې وَلَدَارُالاخِرَةِ دي اَولَادَهُم شُرَكَائِهِم (انعام ع ۱۲) د الف نه وروسته (والا همزه) چى په مصحف شامي كې دي او پا ته قرآن كې دا همزه دواو په صورة كې ده يعنى همدارنګه شُرَكَاؤُهُم

دويم باب

(سورة الاعراف څخه تر سورة مريم پورى)

بطِلٌ (اعراف ع ۱۲ ، هود ع ۲) طٰئِرُهُم (اعراف ع ۱۲) كلمته په حذف د الف سره دي. خَطِيئتُ. خطيئتِكمْ (اعراف ع ۲۰) خَطِيئتِهِم (نوح ع ۲) په حذف د الف او په اثبات د يا سره راغلي دي اَلخَبِئتُ (اعراف ع ۱۹ ،انبيا ع ۵) په حذف د الف سره دي. سحِرِ

(اعراف ع ۱۴ ،یونس ع ۸ ) بعضی قرانو کښ الف د سین وروسته او بعضی کښ د حاء وروسته راځي او دا قرائت د اختلاف د وجی څخه دا رنګه لیکل کیږي: سَحَّارٍ (شعرا ع ۳ ) په اتفاق د حاء وروسته اثبات د الف دي وَرِیشًا (اعراف ع ۳ ) په بعضو قراتو کښ د یا وروسته الف دي یعنی وَرِیَا شًا په اثبات الف قرائت ندی مګر دا رسم پیدا کیږي مَسَّهُم طَئِفٌ (الاعراف ع ۲۴ ) کښ د طا وروسته په الف کښ اختلاف دی د حذف د الف والا رسم اختیار کړه ولی چی حذف شمول قرائت دي. بَصطَةً (الاعراف ۹ ) په صاد سره لیکل کیږي وقَالَ المَلَأُ (ع۱۰) کښ قَالَ څخه مخکښ واو شامي مصحف دی او یا ته بغیر واو مرسوم دی یعنی قَالَ المَلَا ـ وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِيَ (ع۵ ) شامي مصحف په حذف د واو مَاكُنَّا دی په نورو مصاحفو کښ واو مرسوم دی قَلِيلًا مَايَتَذَكَّرُونَ (ع ۸ ) شامي مصحف کښ قَلِيلًا مَاتَذَكَّرُونَ دي واِذْاَنجكُمْ په شامي مصحف کښ رسم او پا ته مصاحف کښ وَاِذاَنْجَيْنٰكُم دي په ټولو مصاحفو کښ جیم او نون وروسته والا الف مخذوف دي اٰمنكُمْ (انفال ع ۳ ) لِاَمنتِهِمْ ( قد افلح المؤمنون ع ۸ ) جمع مونث سالم کښ چی دوه الف وي نو مخذوف دي لِهٰذَا اَمَانَات کښ د دوو الفو حذف قاعدی مطابق دي یاد وساتی چی په سورة المؤمنون کښ او سورة المعارج کښ دي کلمی سره مکښ واحد او پاته جمع سره ویلي دي مَسٰجِدَ اللهِ (توبه ع ۳ ) جمع مکسر په وزن د مفاعل الف محذوف وي لِهٰذَا مَسَاجِد کښ د الف د حذف قاعدی مطابق دي دی کلمی سره مکښ او بصریین مفرد او باقي ورته جمع وایی د امام شاطبي د تخصیص ذکر وجه هم دا ده خِلٰفَ رَسُوْلِ اللهِ (هود ع۱۱) په دی کښ الف محذوف دي. ولَا اَوضَعُوا (توبه ع ۷ ) کښ د لام وروسته الف زائد لیکل شوي دي. لَا اَذْبَحَنَّهُ (نمل ع ۲ ) کښ هم لفظ د الف زائد لیکل شوي دي. لَاِلَى اللهِ (ال عمران ۱۷ ) لَاِلَى الجَحِيمِ (صافات ع ۲ ) کښ د الف زائد لیکلو اختلاف دي تَحتَهَا الاَنهرُ مکښ مصحف کښ مِن تَحتَهَا الاَنهرُ (توبه ع ۱۳ ) یعنی مِن جاره اضافه لیکل شوي دي. په (توبه ع ۹ وع ۱۱ ) کښ باالاتفاق

Maktaba Tul Ishaat.com

مِن تَحتِهَا دي. وَالذِيْنَ اتَخَذُوا شامي او مدني مصحف کې د واو د حذف الذِيْنَ
اتَخَذُوا ليکلی دي (توبه ع ۱۳) يُسَيِّرُكُم (يونس ع ۳) په شامي مصحف کې يَنشُرُكُم
ليکل شوي دي. غَيبَتِ الجُبِّ (يوسف ع ۲) ايَتُ اللسَائِلِينَ (يوسف ع ۲) او عَلیٰ بَيِّنَتٍ
(فاطر ع ۵) په دی درو کلماتو کې اجماعاً الف محذوف دي او په دوو کلماتو کې يې
اختلاف دی مګر حذف مشهور دی او دا حذف شمول قرائت دي حشَ لِلّه (يوسف ع ۴۔
ع ۷) کې د شين وروسته الف محذوف دی او دا خذف د شمول قرائت لپاره دي لَدَا
لبَابِ (يوسف ع ۳) وا لا الف څخه دي او (غافر ع ۲) کې لَدَی الحَنَاجِرِ کې اختلاف
دی يعنی الف او يا دواړه ثابت دي يُحَيِ (يوسف ع ۱۲۔ انبيا ع ۲) يو نون سره ليکل
کېږي لکه نُنجِي المُئومِنِينَ (يوسف ع ۱۰) په اجماع د دوو نونو سره دي. په سورة
يوسف او سورة انبيا کې حذف د نون د شمول قرائت د واسطی لپاره دي. وسَيَعلَمُ
الكُفرُ (يوسف ع ۲) کې په حذف د الف سره مرسوم دي او دا حذف د شمول قرائت
لپاره دي. لاتَايئَسُوا (يوسف ۱۰) لايَايئَسُ (يوسف ع ۱۰) لم يَايئَس (رعد ع ۴)
اذا ستَئَس (يوسف ع ۱۲) فلمَا استَئسوا (يوسف ع ۱۰) پنځه کلمات د همزی په صورت
دي ولی د ساکن وروسته دي اول درو (۳) کې په ټولو مصاحفو کې تا او يا وروسته
الف مرسوم دي او پاته دوو کلماتو کې د الف اختلاف دی يعنی په بعضی مصاحفو
کې مرسوم دي او په بعضو کې مرسوم نه دي په مخکې دری لفظو کې روايت د بزی
دي او دوو لفظو کې غير د بزی قرائت دی په دی پنځو لفظو کې باالخلف الف په يا
باندی مخکې کړی بيا يې وو ايه يعنی تَايَسُوا. يَايسَ۔ اِستَايَس۔ ايتَايَسُوا. بِايّمِ الله
(ابراهيم ع ۸) په ياء ليکلو کې اختلاف دی يعنی رسم دوه قسمه دی يو د الف څخه
بِاَيَامِ الله دوهم په ياء سره بِايّيمِ الله او پدی رسم کې د دوو ياګانو شکل جمع دی او
تماثل په وجه يوه ياء محذوفه شوي نه ده بلکې دواړه مرسوم دي طٰئِرَه فِی عُنقِهِ
(اسراء ع ۲) په حذف د الف دی او كِلهُمَا په الف کې اختلاف دی. كِلَاهُمَا رسم دوه

د وله معنی دي يو كِلاهُمَا. كِلهُمَا او غلط دا دي كِلتهُمَا د دی حذف اختصار لپاره دی كِلاهُمَا په الف كي امام همزه او كسائی لپاره اماله ده د اهل لغت دوه قوله دي يعنی الف بدل د واو او بدل د ياء څخه سُبْحٰنَ قُلْ (اسراء ع۱۰ ) كي حذف د الف دی او دا شمول قرائت لپاره دي تَزٰوَرُ (كهف ع۲ ) زكِيَةً. لتَخَذْتَ. كَلِمتُ رَبِّی په ټولو كي حذف د الف دي مخكي په دری (۳ ) كلماتو كي حذف د الف شمول قرائت لپاره دي او كَلِمتُ رَبِّی كي حذف د الف د اختصار لپاره دي خَرْجاً (كهف ع۱۱ ). مؤمنون ع۴ ). فَخَرْجُ (مؤمنون ع۴ ) د اول په الف كي اختلاف دی او په دوهم كي الف مرسوم دي ياد ساتی پاكستانی قرآن كي فَخراجُ الف مرسوم نه دي په دواړو كلماتو كي حذف د الف شمول قرائت په وجه اتُونِی (كهف ع۱۱ ) كي يو الف د تماثل په وجه محذوف دی مَكنّی (كهف ع۱۱ ) مكي مصحف كي دوه نونه دي پاته مصاحفو كي يو نون دی يعنی مَكنِّی لاَجِدَنَّ خَيرًا مِنهَاء كوفی او بصری مصاحف رسم دي چی په مكي ، مدني او شامي مصاحف كي مِنهُمَ مرسوم دي

## دريم باب

## (له سورة مريم څخه ترسورة صاد پوری )

خَلَقْنكَ. اِختَرْنكَ. (مريم ع۱ طه۱ ) دا كلمات په حذف د الف دي په اصل كي دا خَلَقْتُكَ. او خَلَقْنكَ دي دارنګه اختَرْتُكَ او اختَرْنكَ دي خَلَقْنكَ امام همزه او كسايی ويلي چی پاته خَلَقْتُكَ ويلي دي دارنګه اختَرْتُكَ او اختَرْنكَ دي خَلَقْنكَ امام همزه او كسايي ويلی دي چی د پا ته كسانو قرائت دی په دی ټولو عبارت كي حذف د الف شمول قرائت لپاره دي. لاتَخفُ دَرَكًا (طه ع۴ ) په حذف د الف كي اختلاف دي مګر لاتَخفُ (طه ع۱ ـ ع۴ ) او فلايَخفُ (طه ع۲ ) په حذف د الف اجماع ده مګر بهتر دي لاتَخف دَرَكًا كي د الف حذف ومني ولی دا حذف د شمول قرائت دواسطی لپاره دي تَسٰقط (مريم ع۲ ) كي الف محذوف دي او دا هم شمول قرائت

Maktaba Tul Ishaat.com

لپاره دي يُسرِعُوْنَ (انبياء ع ۶ - مؤمنون ع۴ ) جَذٰذًا (انبياء ع ۵ ) وَحَرٰمٌ (انبياء ع ۷ ) پدی ټولو کې حذف د الف دي په اول دوو کلماتو کې حذف د الف اختصار لپاره دي يا د ساتی په جذٰذًا کې اول ذال نه وروسته ولا الف محذوف دي دويم ذال نه وروسته ولا الف نون تنوين دي وَحَرٰمٌ کې حذف د الف شمول قرائت لپاره دي قٰلَ رَبّی (انبياء ع ۱ ) قٰلَ رَبِّ احكُم (انبياء ع ۷ ) او قٰلَ اَوَلَو جِئتُكُم (زخرف ع ۲ ) په ټولو کې الف محذوف دي پاکستاني مصاحف کې سورة انبياء والا قالَ په حذف د الف ليکل شوي دي شه داده چی مصحف کوفي اثبات د الف وليکل شي ولی کوفين صرف شعبه لپاره په صيغه د امر قُل سره وايي پاته ټوله قالَ وايي سعودي په مصحف کې قالَ په اثبات د الف سره ليکل شوي دي په دی دری ځايو کې حذف د الف د شمول قرائت لپاره دي اَوَلَمْ يَرَالذِينَ (انبياء ع ۳ ) مکي مصحف کې په حذف د واو يعنی اَلَم يَرَالذِينَ مرسوم دي مَعٰجِزِينَ (حج ع ۷ - سبا ع ۱ - ع ۵ ) يُقٰتِلُوْنَ ( حج ع ۶ ) کې الف محذوف دي او له کلمه کې حذف د الف شمول قرائت لپاره دي په دويمه کلمه کې د اختصار لپاره دي يُدٰفِعُ (حج ع ۵ ) په الف کې اختلاف دی مکې او بصري يَدفَعُ او پا ته يُدٰفِعُ وايي سٰمِرًا (مؤمنون ع ۴ ) عِظٰمًا او العِظٰمَ (ع ۱ ) کې حذف د الف دي قٰل کَم او قٰل اِن لَبِثتُمْ (مؤمنون ع ۶ ) کوفي مصاحف کې حذف د الف دي سٰمِرًا کې حذف د اختصار لپاره دي او عِظٰمًا او العِظٰمُ کې شمول قرائت لپاره دي قٰل کَم او قٰل اِن کې نورو مصاحفو رسم په الف دي اول سره مکې همزه او کسايي قُل او پا ته قالَ ويلي دي او دويم سره همزه او کسايي قُل او پا ته يي قالَ ويلي دي البته بَلِ ادّٰرَکَ کې دال همزه نه وروسته والا الف شمول قرائت په وجه حذف سو ، سَيَقُوْلُوْنَ لِلّٰهِ په اخري دوو کلماتو کې بصري مصحف کې الف زيات سَيَقُوْلُوْنَ اللّٰه دي اوله کلمه کې د ټولو مصاحفو په حذف د الف اجماع ده فِيهَا سِرٰجًا کې په حذف د الف کې اختلاف دي او دا حذف شمول قرائت لپاره دي ذُرِّيّٰتِنَا (فرقان ع ۶ ) دارنګه ذُرِّيّٰتُ هره کلمه کې چی سورة فرقان

وروسته تر آخر قرآن پوری راغلي دي (یس ع ۳۔ غافر۔ طور ع ۱) په تولو کې حذف د
الف دي او دا حذف د شمول قرائت په وجه دي نُزِّلَ الْمَلٰئِكَةُ (فرقان ع ۳) مکې
مصحف کې دوه نون سره نُنزِلُ الْمَلٰئِكَةَ دي. حٰذِرُونَ (شعراء ع ۴) فٰرِهِينَ (شعراء ع ۸)
په دوارو کلماتو کې حذف د الف دي او دا حذف د شمول قرائت په وجه دي
وَتَوَكَّل (شعراء ع ۱۸) شامی او مدنی مصحف کې واو په ځای د فاء فَتَوَكَّل
دی او لَيَاتِيَنِّی (نمل ع ۲) مکې مصحف کې دوو نونو سره لیکل شوي دی یعنی
او لَيَاتِيَنَّنِی ایتُنَا (نمل ع ۱) طٰئِرُكُمْ (نمل ع ۴) بَلِ ادّٰرَكَ (نمل ع ۵) دا دری سره کلمات په
حذف د الف دی. ایتُنَا کې حذف د الف قیاس رسم مطابق دی جمع مونث سالم الف نه
لیکل کېږی. دا حذف د احتصار لپاره دی. دارنګه طٰئِرُكُم کې هم حذف د الف
د احتصار لپاره دی. البته بَلِ ادّٰرَكَ کې دال نه وروسته والا شمول قرائت په وجه حذف
شو. ولی په دی کې یو قرائت اَدرَكَ هم دی. وَآبَاؤُنَا اَئِنَّا (نمل ع ۲) شامی مصحف کې
اِنّنَا لیکل شوی دی. بِهٰدِ الْعُمیِ (نمل ع ۶. روم ع ۵) فَنٰظِرَةٌ (نمل ع ۳) سٰحِرٰنِ (قصص ع ۵) په
حذف د الف کې اختلاف دی. په دی درو سرو کلماتو کې د قرائت اختلاف
دی (نمل) (روم) کې امام همزه تَهدِی الْعُمیِ او پاته بهادِی الْعُمیِ ویلی
دی. فٰرِغًا (قصص ع ۸) کې د الف حذف دی او دا حذف د الف چی د فا وروسته دی
دا د احتصار په وجه دی قَالَ مُوسٰی (قصص ع ۴) کې مکې مصحف په حذف د واو سره
قَالَ مُوسٰی ویلی دی. عَلَيهِ ایتٌ (عنکبوت ع ۵) د الف حذف قیاسی دی ولی د قرائت
اختلاف دی او دا حذف د شمول قرائت په وجه دی. وَفِصٰلُهُ (لقمان ع ۲) کې حذف د الف
دی او دا حذف د شمول قرائت په وجه دی، تُصَعِّر (لقمان ع ۲) په حذف د الف دی
او دا حذف د شمول قرائت په وجه دی. تَظٰهَرُونَ (احزاب ع ۸) کې حذف د الف دی
او دا حذف د شمول قرائت په وجه دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

يَسأَلُونَ(احزاب ع۲) په حذف د الف کې اختلاف دی يَسأَلُونَ کې رسم دوه ډوله دی
(۱) يَسأَلُونَ(۲) يَسئَلُونَ يعنی اثبات د الف او حذف د الف د اختلاف رسم هم د شمول
لپاره دی اثبات د الف حذف قياسی دی ولی قياس دا دی همزه متحريکه وروسته
حرف صحی ساکن شکل محذوف وي او يَسآءَلُونَ او پاته يَسئَلُونَ وايي شکاره ده چی
يَسئَلُونَ امام همزه لپاره وقف قياسی داوي چی د نقل حرکت څخه يَسَلُونَ ووايي
او جائز دی چی تخفيف رسمی مطابق د همزی ابدال په الف وي يعنی يَسالُونَ د اتوجيه
هم کيدلی شی پدی ځای کی همزه په صورت د الف نيت د تخفيف رسمی ليکل شوي
ده.

عٰلِمُ الغَيبِ(سبا ع۱) کې حذف د الف دی او د احذف شمول قرائت لپاره دی بٰعِدْ(سبا ع
۲) کې حذف د الف دی او د احذف شمول قرائت لپاره دی مَسٰكِنِهِم(سبا ع
۲) نُجزِی(سبا ع۲) بِقٰدِرٍ(يس ع۵)

(احقاف ع۴) دری سره کلمات په حذف د الف دی او د احذف شمول قرائت دی
وَمَا عَمِلَت(يٰس ع ۳) کوفی مصحف رسم دی او پاته مصاحف کې وَمَا عَمِلَتهُ مرسوم
دی. فٰكِهِينَ(دخان.طور ع ۸.تطفيف) فٰكِهُونَ(يس ع ۴) په حذف د الف کې اختلاف دی
دلته حذف د الف بهتره دی.او د شمول قرائت لپاره دی اٰثرِهِم(صفات ع۲) کې حذف
د الف دی لکه(يس ع۱) والا کې اختلاف دی د نافع څخه اجماعی رسم نقل شوي دی
چی اثَارِهِمْ کې الف محذوف دی علامه دانی په صافات کې محذوف ويلی دی (په
الحديد.المائده.يس.او صافات) په ټولو ځايو کې الف محذوف دی البته دومره فرق
دی په صافات کې د الف حذف اجماعی دی او پا ته کې راجح دي په دی کې د قرات
اختلاف نسته د احذف د الف د اختصار لپاره دی.

## خلورم باب

(د سورة ص څخه د قران تر اخره پورې)

كذبٌ(زمرع۱)عِبدَهٗ(زمرع۴)کې اوله کلمه اجماعًا په حذف د الف ده او د حذف د الف اختصار لپاره دی او په دویم ځای کې په حذف د الف کې اختلاف دی او دا رسم د اختلاف شمول قرائت لپاره دی.تَامُرُونّی(زمرع۶) شامی مصحف کې دوه نونه دی یعنی تَامُرُونَنِی لیکل شوي دی.

اَشَدَّ مِنهُمْ(مئومن ع۳)شامی مصحف کې اَشَدَّ مِنكُمْ دی. دِیْنَكُمْ اوْاَنْ د کوفي مصحف رسم دی پا ته مصاحف کی دِیْنَكُمْ وَاَنْ دی. کلماتـ(یونس ع۴.ع۱۰)بِکَلِمَاتِ(تحریم ع۲)کَلِمتُ(مئومن ع۱)په دی خلورو ځایو کې حذف د الف لیکل شوي دی او دا حذف د الف شمول قرائت لپاره دی اَلسَّموتِ، سَموتِ په دواړو کلماتو دواړه الفونه محذوف دی دا حذف د الف د رسم قرانی د قیاس مطابق دی یعنی د جمعی مونثی سالمی الف یا الفونه محذوف دی مگر په سورة فصلت سَمواتِ کې د دوو الفه څخه او دویم الف په رسم کې ثابت دی دا رنګه ثَمَرتٍ(فصلت ع۶)کې هم حذف د الف دی او دا حذف د الف د شمول قرائت لپاره دی اسوِرَةٌ(زخرف ع۵)کې حذف د الف دی او د حذف د الف د شمول قرائت لپاره دی.فبِمَا کَسَبَتَ(شوری ع۴)مدنی او شامی مصاحف کې د فَابِغَیرِبِمَا کَسَبَت دی.تَشتَهِی الاَنفُسُ(زخرف ع۷)مدنی او شامی ماصحف کې دها زیادت یعنی تَشتَهِیهِ مرسوم دی یعِبَادِی لا مرسوم دی. عبد الرحمن(زخرف ع۶)کې په حذف د الف اجماع ده اِحسَانًا(احقاف ع۲)کوفی مصاحف کې د حامخکې او د سین وروسته الف مرسوم دی او پا ته مصاحف کې حُسنًا دی دواړه الفونه حذف دی بِقدرٍ(احقاف ع۴)اَثرَةٍ(احقاف ع۱)عهَد(فتحنا ع۱) خشِعًا (قمرع۱) په اول دری کې په حذف د الف اجماع ده او په خلورمه کلمه کې په حذف

Maktaba Tul Ishaat.com

دالف کې اختلاف دی بِقدرِ کې حذف دالف دشمول دقرائت لپاره دی عهدکې حذف دالف دااختصار لپاره دی دارنګه اثرۃِ کې حذف دالف دااختصارلپاره دی. خشعًا کې حذف دالف شمول قرائت لپاره دی ذَاالعَصفِ(رحمن ع۱)د شامی مصحف رسم دی پاته مصحف کې ذُوالعَصفِ دی دارنګه ذِی الجَلٰلِ(رحمن ع۳)د شامی مصحف کې په واو ذُوالجَلٰلِ لیکل شوي دی ذُوالجَلالِ وَالاِکرَام کې ټولو لپاره په واو سره رسم دی تُکذبنِ بِمَوقِعِ النّجُومِ(واقعه ع۳)د دواړو په الفوکې دحذف اختلاف دی تُکذّبنِ کې الف دتثنی دحذف قیاس مطابق دی او مرسوم کول دقیاس خلاف دی. لکه چې بِمَوقِعِ کې حذف دالف شمول قرائت لپاره دی.

فَاِنّ اللّٰهَ هُوَالغَنِیُّ شامی او مدنی مصاحف کې دهُوَ بغیر فَاِنّ اللّٰهَ الغَنِیُّ مرسوم دی وکُلّاوّعَدَاللّٰهُ کې شامی مصحف رسم وکُلٌّ وّعَدَاللّٰهُ په حذف دالف دی(حدید ع۱)وَاِن تَظٰهَرَا(تحریم ع۱)اَن تَدرَکَهٗ(ن ع۲)په دواړه کلماتو کې حذف دالف دی اول کې حذف دشمول قرائت لپاره دی او په دویم کلمه کې حذف دالف دااختصار لپاره دی. بِرَبِّ المَشرِقِ وَالمَغرِبِ(معارج ع۲)عَلَیهِم(دهر ع۱)ولَاکِذّٰبًا(نبا ع۲)په دی ټولو کې حذف دالف دی او په دی ټولو کلماتو حذف دااختصار لپاره دی قُل اِنّمَا(جن ع۲)په لفظ دقُل کې په الف لیکلو کې اختلاف دی یعنی بعضی کې قُل او په بعضی مصاحف کې قالَ دی او دا اختلاف دقرائت په وجه دی.

جِملٰتٌ(مرسلات ع۱)اول الف چې دمیم وروسته دی پدی کې اختلاف دی او لام نه وروسته والا الف اجماعًا محذوف دی جِملٰتٌ کې دویم الف حذف قیاسی دی او شمول لپاره هم لکه چې اول الف حذف قیاسًا او اختصارًدی جِایءَ(زمر ع۷.) الفجر کې جیم او یا په منځ کې یو الف زیات والی دی دالف زیات والی غیری قیاسی دی چې په قرآن کې ددی ډیر مثالونه دی لکه لِشَیٔیءٍ وغیره. خِتمُهٗ(تطفیف ع۱)تُصٰحِبنِی(کهف

ع۱۰)کَبٰئِر(شوری ع۱.نجم ع۲)عِبدِی(الفجر)سُکری(حج ع۱)پدی پنځه کلمات کې الف محذوف دی په دی پنځه کلماتو کې تُصَاحِبنِی او عِبَادِی کې حذف دالف اختصار لپاره دی.او پاته دری مثالو کې شمول قرائت لپاره دی.په سورة صاد او سورة الفجرعلاوه هرځای دعباد الف مرسوم دی مثلاًیَاعِبَادِی لَاخَوفٌ عَلَیکُم په سورة صافات کې وَاذکُر عِبَادَنَا اِبرٰهِیمَ وَاِسحَاقَ وَیَعقُوبَ کې مکې مفرد وَعَبدَنَا اوپاته په جمع سره وایي وَلَایَخَافُ کې شامی ومدنی مصحف کې په فاء فلا سره مرسوم دی. بِضَنِینَ(تکویر)په ضاد سره مرسوم دی.پدی ظا او ضاد کې دوه قرائت دی مګر لیکل سوي په ټولو مصاحفو کې په ضاد سره دی. اَرَاَیتَ.اَرَاَیتُم.اَفَرَاَیتَ.اَرَاَیتَکُم.په دی ټولو کلماتو کې درانه وروسته والا الف محذوف دی.خامخا رَاٰیتَ په کوم کې چی د راځخه مخکې همزه استفهامیه نه وي نود را نه وروسته والا الف مرسوم دی.مِهدًا لکه اَلاَرضَ ورو ِسته راسی(طه ع۲.زخرف.نبا ع۱)په دی دروځایو کې الف محذوف دی.په نورو ځایو کې الف مرسوم دی لکه جَهَنَّمَ مِهَادٌ وغیره اَلظُّنُونَا. اَلرَّسُولَا.اَلسَّبِیلَا(احزاب ع۲.ع۸)دری سرو کلمات په الف سره دی.ثَمُودًا (هود ع۲.نجم ع۳.فرقان.عنکبوت ع۴)په دی ټولو ځایو کې دال نه وروسته الف مرسوم دی سَلسِلَا.قَوَارِیرًا دوه ځله په دی دری ځایو کې الف مرسوم دی.سَلَا سِلَا کې په ټول قرآن کې دویم لام نه وروسته الف ثابت دی.

احقر مدني غفرله

Maktaba Tul Ishaat.com



مکتبہ رشیدیہ

کچلاک